A Reflection of Our Life

QUARTERLY YOON PESHAWAR

October-December 2017
Editor: M. Akbar Hoti
Co-Editors: Abdul Latif & Sajjad Jwandoon
Designing and Photography: Abdul Majid Khan
Illustration and Painting: Pir Hamid Khesgi
Advisory Council: Ajmal Khan, Shahbaz Khan, Naeem Safi, Riaz Khan
Languages and Literature Unit
Directorate of Culture Khyber Pakhtunkhwa, Peshawar
Contacts:
Phon: 0919211200
Fax:   0919211220
Email: yooneditor@culture.kp.gov.pk
Web: www.culture.kp.gov.pk/homepage/e_magazine

سہ ماہی یون  پشاور

اکتوبر تا دسمبر ۲۰۱۷

مدیر! محمد اکبرہوتی

معاونین! عبدالطیف، سجاد ژوندون

ڈیزائننگ و فوٹو گرافی عبدالماجدخان

السٹریشن و پینٹنگ: پیر حامد خویشگی

مشاورتی کونسل: اجمل خان، شہباز خان، نعیم صافی، ریاض خان

اہتمام: زبان او ادب یونٹ محکمہ ثقافت خیبرپختونخوا

رابطہ:

فون: ۰۹۱۹۲۱۱۲۰۰

فیکس: ۰۹۱۹۲۱۱۲۲۰

ای میل: yooneditor@culture.kp.gov.pk

ویب سائیٹ: www.culture.kp.gov.pk/homepage/e_magazine

# CONTENTS


6  د پښتونخوا سیندونه او ډیمونه

8  درشل او تورمخونه د ---

10  د پښتو سره د نوروژبو ---

13  د بنو مازدیګر

18  د محکمه ثقافت ---

19  عبدالحمید مومند او پښتونولي

22  پشتو موسیقی --کل کی تلاش

25  جیگوچھوٹی کہاڑی --- وڈا سبق

28  کھوار، گیاک زمانوت

30  Kelash folk story

Culture & Entrepreneurship  32

Folklore And Folk Literature  33

Impacts Of New Media On  38

# 2017 کی آخری ”یون“

محکمہ ثقافت خیبرپختونخوا کی تاریخ کا پہلا ای میگزین ”یون“ ادب و ثقافت کے فروغ کی جانب کامیابی کے ساتھ گامزن ہے اور اللہ تعالیٰ کے فضل و کرم سے سال کا آخری ”یون“ قارئین کو پیش کی جارہی ہے، پچھلے مجلوں کی طرح اس مجلے میں حتیٰ الوسع کوشش کی گئی ہے کہ خیبرپختونخوا میں بولی جانے والی زبانوں کے ساتھ ساتھ انگریزی او اردو میں ادب و ثقافت کے موضوعات پر لکھے گئے مضامین اور تحقیقی مقالوں کے ذریعے قارئین کو علم اور معلومات کی منتقلی یقینی بنائی جائے۔ یون میں اس بات کا بھی خیال رکھا گیا ہے کہ سینئر لکھاریوں کے ساتھ نوجوانوں کو یکساں مواقع فراہم کئے جائیں۔

2017 میں کل چار شمارے جاری کئے گئے ہیں جس میں اب تک مجموعی طور پر دس زبانوں میں ادب و ثقافت کے موضوعات پر مضامین کی اشاعت کی گئی ہے۔ یون چونکہ ایک ای میگزین ہے اور انٹرنیٹ کے ذریعے پڑھی جاسکتی ہے تو باہر ممالک میں تارکین وطن اس سے اچھی طرح محظوظ ہوتے ہیں لیکن آئندہ سال یون کا ادارہ اس کوشش میں ہے کہ ای مجلہ کے ساتھ ساتھ ہارڈ کاپی کی شکل میں بھی ممکن ہو تاکہ لائبریری میں پڑھنے والوں کو بھی مطالعے کے لئے صحت مند مواد مہیا ہو۔

ادبی اور ثقافتی مجلہ عوامی شعور اجاگرکرنے میں ایک اہم کردار ادا کرسکتا ہے اور ترقی یافتہ اقوام ادبی اور ثقافتی فروغ سے ہی مضبوط ادارے قائم کرسکتے ہیں، محکمہ ثقافت کی ”یون“ سے یہی توقع کی جاسکتی ہے کہ ایک وقت آئے گا کہ یون ہمارے طلباء، طالبات، نئی نسل، محققین اور ادب اور ثقافت سے وابستہ افراد کی ضرورت بن جائے گی۔ قوی امکان ہے کہ ”یون“ ایک ریسرچ جرنل کی شکل اختیار بھی کر جائے تا کہ محققین ادب اور ثقافت کے مضوعات پر تحقیقی مقالے شائع کرینگے جس میں ہر زبان میں تحقیق کی گئی مقالوں کو جگہ مل جائے گی، محکمہ ہذا میں پشاور رائٹرز کلب کا قیام بھی عمل میں لایا گیا۔ جس میں لکھاریوں کی رجسٹریشن جاری ہے اور رائٹرز کلب بھی ”یون“ کے مضبوطی میں کردار ادا کرے گا۔ انشاء اللہ وہ دن بہت جلد آنے والا ہے کہ ”یون“ کی روشنی خیبرپختونخوا اپنی منزل آسانی کے ساتھ حاصل کرسکے گی۔


Directorate of Culture
Government of Khyber Pakhtunkhwa

# د پښتونخوا سيندونه او ډېمونه

ډاکټر بدر الحکيم حکيم زے



الله پاک په قران شريف کښې وائي ! يعنې مونږ ټول ځيزونو ته د اوبو نه ژوند ورکړے دے ـ په ډاګه ده چې فصلونه او نوره زرغونه هله له زمکې راټوکېږي چې اوبۀ ورته ور ورسېږي ـ دغه ټوکېدونکې مېوې او فصلونه انساني خوراک دے او ژوند ته دوام ورکوي ـ چرته چې اوبۀ ډېره ده هلته انساني تهذيبونه وده کوي ، د مصر ، بابل ، سنده او ګندهاره د شتمنو تهذيبونو په وده کښې د سيندونو لوے کردار پاتے شوے دے ـ له نېکه مرغه د پښتون خوا په سيمه ګڼ شمېر سيندونه په چپو او غورځنګونو بهېږي ـ هم د دې سيندونو په وجه د پښتونخوا خاوه ښېرازه او د تهذيبونو ځانګو ده ـ هم د دې سيندونو په برکت دلته بېلا بېلې مېوې ، او قسم قسم فصلونه پيدا کېږي او د پښتونخوا په تمدني پرمختګ کښې مرسته کوي ـ د پښتونخوا د سيندونو نه راپورته کېدونکے شمال د پښتو ژبې او ادب زلفو ته هم ځنډ ورکوي ـ ګڼ شمېر ټپې متلونه او فولکلوري قيصې او سندرې ددې سيندونو سره د خپلوۍ تړون لري ـ زمونږ د دغو خوندورو او ګټورو سيندونو خدوخال په دې ډول دي ـ

اباسين : اباسين نۀ يواځې د پښتونخوا بلکې د ټول پاکستان تر ټولو لوے سيند دے ـ د چين تبت سيمه ئې سرچينه ده ـ په کشمير ، سکردو او ګلګت يعنې د هماليې او قراقرم په غرونو راتېرېږي او د پښتونخوا په ضلع کوهستان ورننوځي ـ تر ډېره اسماعيل خانه د پښتونخوا او پنجاب په پوله روان وي ـ بيا په پنجاب او صوبه سيند ورګډ شي ـ دغسې ځان تر دريابه رسوي ـ دا د مهو پېداوار د پاره هم ډېر مشهور دے ـ د دې سيند په حقله د پښتو متلونه دي ـ "کارغۀ کۀ په اباسين کښې اولامبي خو نۀ سپنېږي"ـ اباسين د سپي په جوته نۀ بېلماځه کېږي ـ هم دغسې د پښتو د يو شمېر ټپو تعلق هم د اباسين سره دے ـ لکه !

**زما دې علم پکار نۀ دے**
**د اباسين چپې دې يوسه کتابونه**
**کۀ اباسين راغلے نۀ وے**
**په ګنګخرو کښې به چا موندل ټيکونه**

يا دا فولکلوري سندره هم د اباسين سره تړون لري ـ

**اباسين چپې چپې**
**پکښې ناسته درخانۍ**
**درخانۍ خورې راپاڅه**
**په لستوني کښې دې مار دے**
**نوم ئې چمچمار دے**

د صوابۍ د هري پور ترمنځه په دې سيند تربېلا ډېم جوړ دے ـ دا ډب د ختو ګټو نه جوړ دے چې اوږوالے ئې 97 کلوميټر او پلنوالے ئې 3 کلوميټره دے ـ ټوله رقبه ئې 260 مربع ميټر ده ـ چې 14.34بلين کيوسک اوبۀ پکښې خوندي شوي دي ـ دا ډب د سېلابي اوبو د قابو کولو او د اوبۀ خور د پاره جوړ شوے دے ـ خو تقريباً 4500 مېګا واټ بجلي پيدا کوي ـ جوړ کړے د اټلي او فرانس انجنئرانو دے چې اوس ئې د پاکستان انجنئيران ځارنه کوي ـ د پاکستان انجنئيران هڅې کوي چې وخت په وخت ئې د بجلۍ نور پېداوار نور هم سېوا کړي ـ کۀ يو خوا دا ډېم د سېل ګرۍ يو ښائسته ځائے دے نو د له بل پلوا د قران په دې وېنا د مسلمان عقيده نوره هم پخوي "او مونږ تاسو له مسخر کړي دي نهرونه "

درياے کابل: د دې سيند سرچينه د افغانستان د بدخشان غرونه دي ـ د بدخشانه چترال او بيا له چترال نه کونړ ته ننوځي ـ يو ځل بيا د مومندو په غرونو کښې پښتونخوا ته راننوځي ـ په ضلع چارسده کښې درې ځايه شي ـ او په ادېزۍ ، ناګمان او شالم نومېږي ـ د دې سيند کبان ډېر خواږه دي او په سردرياب کښې د سېل ګرۍ پارکونه او د کبانو خوړولو معياري هوټلونه هم لري ـ د اکبر پورې سره چې د سيند درې واړه ځانګې يو ځائے شي نو ډېر زړۀ راښکونکې نظاره جوړوي ـ د دې سيند په غاړو ګندهاره تهذيب خپلې وړمې او رنګونه خوارۀ کړي وو ـ او پشکلاوتي يعنې چارسدې د نومورے تهذيب د مرکز حېثيت درلود ـ په دې سيند د مومندو په تپه ورسک کښې د ورسک ډېم په نامه د اوبو ډب جوړ دے ـ د کېنډا په مرسته جوړ شوے دا ډب د سېلاب د مخ نيوي ، اوبۀ او بجلۍ پيدا کولو په کار راځي ـ دا ډېم تقريباً د اتۀ سوه مېګه واټه بجلي پېدا کولو صلاحيت لري او د پېښور ضلعي کاپي زمکه په دې سيند خړوبېږي ـ





د کرمې سین: دا سین د افغانستان نه دحسن خېلو راپېل کېږي او د خر لاچۍ په مقام کرمې اېجنسۍ ته رانںوځي بیا د شمالي وزیرستان په خاوره بنو ضلعې ته ځان رسوي او بیا له بنو نه په اباسین ورګډېږي ـ د بنو په خېرازتیا کښې د دې سین لوے لاس دے ـ د بنو په کرم ګړهۍ کښې په دې سین یو لوے ډېم جوړ دے چې زمکې خړوبوي ـ

د سوات سین:دا سین د سوات د کالام او اتروړ له غرونو نه راپېل کېږې ـ د درال خوړ باروي خوړ ، اروني خوړ او د شانګلې خوړ ورسره ورګډېږي ـ بټ خېلې ته په رارسېدو ئې یوه برخه اشنغر ته روانه شي او یوه ئې جبڼ ته ـ چرته چې په دې جبڼ پاور پلانټ لګېدلے دے او بجلي پېدا کوي ـ دا سین په تاریخ کښې په سواستو هم یاد شوے دے ـد دې سین په غاړو ګندهاره تهذیب ډېره وده کړې دوه کومه چې هن بادشاه تورمان تبا کړۀ ـ په دې سین د سوات زمکې خړوبېږې او ټول سوات ئې خېرازه او په باغونو او په فصلونو برجغ کړے دے ـ هم دغسې دا سین چې په ملاکنډ راکوز شي نو د چارسدې په مقام د خیالي سیند په نوم د نوښار سره اباسین ته ورپرېوزي۔ د مینګورې په مقام کښې د دې سین نه یو لوے نهر بېل شوې دے د چې د درګۍ سره په غر کښې پورې د ضلع مرادن میاخان سنګاو ته غورځېدلے دے ـ د مردان ضلعې ټوله زمکه هم د دې نهر نه اوبۀ کېږي هم دغه نهر دے چې د سدهوم په علاقه ور تېر شي او صوابۍ ضلع هم کښې د رځړو تپه خړوب کړي ـ په دې سین کښې ټراوټ مهے پېدا کېږې ـ په لکونو سېلاني د ګرمۍ په موسم کښې سوات ته راځي او د دې د ښکلو نظارو نه خوندونه اخلي ـپه ۲۰۱۰ ء کښې په د سین کښې سېلاب راغلے وۀ چې خلقو ته ئې ډېر جاني او مالي تاوان رسولے وۀ ـ د سوات په سین د بحرین په مقام یو ډېم لګیا دے جوړېږي چې د بجلۍ کموت به تر ډېره حده راکم کړي ـ

د دې سیندونو نه علاوه د پښتونخوا په سیمه نور هم یو شمېر لوے واړه سیندونه او خوړونه هم شته ـ لکه د پنج کوړې سین ، باړې سیند، د کونهار سیند، د جوړ خوړ ، د مردان کلپانۍ او داسې نور ـ په دېو او داسې نورو سیندونو او خوړونو یو شمېر د اوبه خور د پاره بندونه تړلي دي شوي ـ لکه تانده ډېم کوهاټ ، کنډر ډېم، دروازې ډېم کوهاټ ، الائي خوړ بټه ګرام، ازاخیل ډېم پېښور ، چنغوز ډېم بنو ، نریاب ډېم کرک ، خانپور ډېم هریپور ، کال ډېم هزاره ، خان خوړ ډیم بشام شنګلاه ، دبېر خوړ ډېم پټن کوهستان ، په دې ډېمونو کښې ځیني ډېمونه بجلي هم پېدا کوي ـ

# درشل او تورمخونه د ایاز الله ترکزي افسانوي مجموعې

اقبال حسین افکار



ما ایازالله ترکزے د فېس بک له لارې د یو متحرکه پښتون لیکوال په حېث پېژندلے دے ـ په دې نه یم پوهه چې د کوم ځائے دے څه کار روزګار کوي تعلیمي قابلیت ئې څومره دے ـ خو د فېس بک د لارې چې هغۀ په عکس کښې څومره ښائسته دے نو دومره د هغه اندرون ښائسته دے ـ با ادبه با اخلاقه نرم رو ـ زما ورسره مخ په مخ لیدل نه دي شوي صرف دا چې د هغه سره چېټ شوے دے یا یې کمنټس ګورم او یا پوسټونه ـ چا څه ښه وئیلي دي چې میاشت له اوله معلومېږي نو ښاغلے ایازالله ترکزي مې هم په زړهٔ کښې د قدر منزلت یوداسې مستقل ځائے جوړ کړے دے چې ویستل به ئې زما د پاره که ناممکن نه وي نو ګران به ضرور وي ـ څه موده وړاندے د پښتو ژبې د دې دور نمائېنده شاعرې ادیبې قدر منې ثمینه قادر بي بي راته وئیل چې ماله د وویمن رائټر فورم په اجلاس کښې یو بي بي د افسانو څو کتابونه راکړي دي چې داسې خلقو ته ئې ورکړه چې وئې ګوري او خپله رائې پرې ورکړي ـ زه به یو کتاب تاله هم درکړم او رائې به پرې ورکړې ـ ماوئیل زۀ صاحب رائې نۀ یم خو د کتاب ډالۍ د ځان لپاره اعزاز ګڼم ـ ثمینه بي بي په پېښورکښې ده او زۀ اسلام آباد کښې ـ څو وارې هغه د پښتومینې د مارګلې په کنډاؤ راواړوله او زما ورسره په پېښور، مردان ، هزاره، چغرزیي بونیرکښې ملاقاتونه وشول خو په څه ناڅه وجه به کتاب زما لاس له رانغلو۔ په 20 مئی 2016 SDS والا په مېنګوره کښې یو خوندورې مشاعرې اختتام کړے وو چې پکښې د لر او بر د شمال ،جنوب د پښتنوسره سره په اسلام آباد کښې میشته د پښتو شاعران موجود وو۔ هم په دغه موقعه د قدرمنې ثمینه قادر بي بي د ایازالله ترکزي د افسانو ټولګه راپېرزو کړه چې په ښائست کښې لکه د ایازالله ترکزي ښائسته او زړهٔ راښکونکې ده ـ د کتاب نوم ''دُرشل '' دے او دُرشل سره ماته خپل یو مات ګوډ شعر رایاد شو ـ

**ستا له دره چې د بل په دُرشل پرېوزي**

**مات دے شل ځله زما دا خوار تندے کړي**

د کتاب کاغذ تک سپین او غټ اوهم مجلد دے ـ چې کمپوز ئې سلیمان کامل کړې وي نو بیا به ورکښې د املاء غلطي څنګه وي خو بیا هم کامل انسان دے په ووړو کښې مالګې په مثال د املاء څو شوې غلطۍ شته ـ بهرحال د ډېر کوشش باوجود داسې کېږي ـ د پرنټرهڅه هم د ستائلوده ـبیعه 200 کالدارې ده چې په دې کتاب ورکې نۀ دي خورونکي د ادبي دوستانو مرکه مردان ده ـ تاسو ئې د پښتونخوا د کتابونو د خاص نه خاص دُکان نه دا کتاب ترلاسه کولې شۍ۔ په کتاب کښې اجمل احمد صادق د افسانې د فن په بابله څه ګټور لیک کړے دے ـ د افسانې په بابله ئې د استاذانو رایه ورکړې ده ـ ولې د ایازالله په افسانو ډېر لنډ تېر شوې دي ـ دویم دا د پښتو افسانه د اردو افسانې همځولې ده ـوائي منطقې ته افسانه په یو وخت د انګلیسۍ ژبې راغلې ده ـ او راحت زاخیلي بابا ړومبې افسانه لیکونکے دے ـ په شلمه صدۍ کښې قلندر مومند ، میر مهدي شاه ، ګل افضل خان ، زېتون بانو ، عبدالکافی ادیب او نورو په فکري او فني حواله افسانه د عروج بام ته خېژولې ده ـ بیا ورپسې هم ګڼ شمېر لیکونکي دي ـ په افغانستان کښې زرین انځور ، بریالي باجوړي ، کبریٰ مظهری خېبر پښتونخوا کښې طاهر آفریدے ، فاروق سرور ، نورالامین یوسفزے او داسې نور ـ په کتاب کښې ټولې 19 افسانې دي ـ ښاغلي ایازالله د استکارقصه کړې ده چې زمونږه د قامي شخصیاتو په څهره زمونږ د عملونو په وجه بدنما داغونه دي ـهغه ئې په ښه طریقه قام ته ښودلې ده چې دارو دُرمل ورله وکړو ـ زما خپل خیال دا دے ځینې افسانو په حواله چې څۀ نا څۀ کمزوري لري ـکه ښاغلي لیکوال لږه نوره خواري کړې وه نو دا نورې هم ښۀ کېدے شوې۔ په کتاب کښې د افسانو قیصې زړهٔ راښکونکې دي ژبه ئې سپېځلې ده د روزمرې محاورې خیال ساتلې شوې دې زما یقین دے که ایازالله پښتو افسانې ته توجه ورکړه نو د خپل دور نمائنده افسانه لیکونکے به جوړ شي ـ د ثمینه قادر بي بي څوک چې په خپله هم د ښۀ شاعرۍ سره ښه افسانه لیکونکې هم ده ـ ځینې افسانې ئې ما لوستلې دي خوښې شوې مې هم دي دخلوص او دښاغلي ایازالله د سپېځلو لنډو قیصو د سپېځلتوب برکت وو چې ما په یو نشست کښې ټول کتاب ولوستلو د ښۀ کتاب اوسپېځلي لیک هم دغه خاصه وي چې خپل لوستونکې له ځانه جدا نه کړي ـ

په آخره کښې ایازالله ترکزي ته په دې ښۀ کتاب دچاپ کولو مبارکي وایم ـ ژوندے ، ګلالے ، بریالے دې وي ـ

**اول مې فکر درته نه وو**

**اوس مې د زړهٔ ستنې کړې درپسې دینه**

څنګه چې ما مخکښې د ایازالله ترکزي د افسانو مجموعه په

20 مي 2016 په لاس راغلې وه د لوستو روستو پرې ما دا مات ګوډ لیکل کړي وو او په فیس بک مې تاسو سره شریک کړي وو.د هغې روستو د ایازالله سره څه ناستې شوي دي په بره خپل لیک کې چې ما د هغه د لیک په تناظر کې د هغه د شخصیت کومه اندازه لګولې وه هغه سل په سل سهي ده او د هغه د افسانو نوې مجموعه " تور مخونه " لوسته نو نور زیات خوشحاله شوم چې هغه خواري کړې ده او درشل د افسانو دوه نه بلکې زیات قدونه وړاندے تللې دے د هغه افسانه که په ژبه ترجمه شي نور څوک ترې دا اندازه لګولې شي چې لیکوال ټولنه یې پښتانه ده اسلوبیات یې هم پښته ده.ژبه یې سوچه پښتو ده پلاټونه یې قوي او مضبوط کردارونه یې ژوندي او ګرندي د خپلې ټولنې دهغه بدو خصلتونه اصلاح یې ډېره ښه په فنکاره انداز کړې ده د تور مخونو ټولو افسانو قیصۍ زمونږ د ټولنې دي ژوندۍ قیصۍ دي په افسانو سسپنس هم شته تجسس ته کلایمکس هم د پښتنې سوالګرې سره ماته د پښتو دا ټپه رایاده شوه.

**چایي پلؤ لیدلے نه وو**

**نن په پردو کوڅو کې غواړي خیراتونه**

ښاغلي افسانه لیکوني په دې افسانه کې خپل ولس ته دا پیغام ورکوي چې هرې ښځې ته د مور.خور.ورندار په نظر وګوري دویم د خپلو خپلوانو چم ګاونډ نه ځان باخبره ساتل پکار ړي.بل د ظلم انتها داده چې مونږ اکثر پښتانه د خور خورونې د رشتو لړ کې محتاط نه یو "د کوره وځه بویخ "او بیا روستو ترې بلها ستوزې وزیږیږي.څوک بوډا وي او څوک هیجړا.دغه رنګ د سکولونو کالجونه ماشومانې په قلار کور کالج ته نه شي تلې .دغه رنګ موباییلونو هم مونږ ته یو ستونزه جوړه کړې ده ډېر کورونه ددې د غلط استعمال په وجه وران شوي په دې کې د موبایل فون قصور لږ او زمونږ ډېر دے مونږ خپل بچي تربیه کړي نه دي او چې تربیت نه وي نو د امزري بچي وي په ګېډه نهر نه وي لیوان به یې ماتوي.وهم یو بیماري ده او لکه د کینسر یې بلها ښکلي ښکلي خلق د بره پرېباسلي دي.بیا نیم حکیم د ژوند دپاره خطر ناک وي.دا هسې خبرې دي چې په خپل وطن کې په کار کسب بنده ته ځان بدي ښکاري او د بل وطن کې د هغې سخت کار کوي.بچي د خپل مور او پلار د وزرو لاندې ښه وده کې.دا هم ضروري نه ده چې بنده دې د لکونو کړونو نه کاروبار شورو کړي.بل زمونږ پښتنو ځوانانو له پکار دي چې هنرونه زده کړي خوشحال بابا وایي

**که په اصل دې د سیدو شهزاده وي**

**چې هنر ورسره نه وي مه یې ستایه**

دا ټول بره چې ما ذکر کړو او څه نور د ښاغلي ایازالله ترکزي د افسانو قیصۍ او موضوګاني دي په دې کتاب کې لږ تر لږه وولس افسانې ډاکټر نګاحسین نګا په وایيي چې ټولې افسانې د لوستو وړ دي.وړ به ولے نه وي چې ایازالله د ابراهیم رومان. ډاکټر نګا حسین نګا .شوکت خریکوال.ډاکټر اقبال په څېر مخلص او پوهه ادیبان

شاعران ملګري لري.د کتاب لوستو روستو دا په جار وایم چې تورمخونه د افسانوي ادب په کتابونو کې او ښاغلے آیاز الله ترکزي د پښتو افسانه لیکونو کې غوه اضافه ده زه یي د یي د صحت من ژونددپاره لاس دعا یم

ځانګه　به　نن　سبا　کې　ګل　شي
مایي　په　سر　کې　سرې　غوټۍ　لیدلي　دینه



# د پښتو سره د نورو ژبو شريکې اړيکې

ډاکټر زبير حسرت



په ادبي لحاظ د لفظونو مجموعې يا هغې خبرو ته وئيلے شي چې د يو قوم د اولس د ملک د وسېدونکو د تر مينځه وئيلے شي او د هغې په ذريعه خلق د يو بل په مطلب رسي ـ چونکې دا خبرې په انساني وجود کښې د هغه غوښنې حصې په ذريعه وئيلے کولے شي ـ چې په خلهٔ کښې د ژبې په نامه يادېږي ـ او هم په دغه وجه خبرو اترو ته د ژبې نامه وئيلے شوې ده ـ

د ژبې فلسفه ډېره کړکېچنه هم ده او زړهٔ راښکونکې هم ده ـ کله چې مونږه د دنيا په مختلفو ژبو باندې نظر اچوو نو سوال راپورته شي چې ژبې څنګه په وجود کښې راغلې ـ ايا دا په ابتدا کښې دا ټولې ژبې ځانله په وجود کښې راغلي دي ؟ او کنه د يوې ژبې مختلفې څانګې دي ؟ ـ د دې جواب به دا وي چې په ابتدا کښې د کائناتو د پيدا کولو نه پس د ټولو نه وړومبے حضرت ادم عليه السلام پيدا کړو ـ او ورپسې ئې بي بي حوا پيدا کړه ـ او دا شان ورو ورو د انسانانو نسل مخ په وړاندې روان شو ـ چونکې الله تعالیٰ انساني دماغو ته تخليقي ماده وربخښلې ده ـ ځکه نو انسانانو په خپل چاپېر چل کښې ولې ، بوټي ، غرونه ، سيندونه ، چينارونه ، مرغۍ ، مختلف ځناور ، ځاروي او زړهٔ راښکونکي منظرونه هم ليدل کتل او څهٔ نا څهٔ نامې به ئې ورکولې ـ او دغه شان د تجويز شوي نامې نه به هم هاغه معنه او مفهوم اخستے شو ـ د دې مثال داسې دے لکه يو ماشوم چې مخامخ څهٔ څيزونه وينې او مختلف لفظونه د خلې نه راوباځي ـ د ماشوم دغه خبرې که زمونږه د پوهې خلاف هم وي ـ هغه فطرتا د تخليقي مادې په مرسته په قسما قسم لفظونو له خلې نه راوباځي ـ په قران عظيم الشان کښې الله پاک فرمائي چې مفهوم ئې څهٔ په دا رنګ دے ـ "او مونږ ادم ته د ټولو څيزونو نامې وښئيلې" (سورة بقره القران) د دې ايت معنه او مفهوم دا هم نهٔ دے چې ګنې خداے پاک ادم عليه السلام ته په يوه مخصوصه ژبه کښې نومونه وښودل ـ بلکې د دې مطلب دا دے چې الله پاک د ادم په زړهٔ او دماغ کښې د لفظونو د سرمائې تخليقي قوت ورداخل کړهٔ او د هغې په وجه انسان په خپله د مختلفو څيزونو مختلف نومونه غوره او ذده کړل ـ د تخليق سره سره ئې په انسان کښې د نقل ماده هم کېښوده چې د دې په پرسته ئې هم بې شمېره مادې جوړې کړي ـ دا هم د انسان د تخليقي قوت او نقل نتيجه ده ـ چې د مرغۍ د اواز نه ئې چوں چوں د کارغهٔ د اواز نه ئې کرا کرا د چيلۍ د اواز نه ئې مۍ مۍ رواستي دي ـ پاتے شو د دې خبرې ځواب چې د ټولو نه اولنۍ ژبه کومه يوه وه چې د هغې نه د دنيا ټولې ژبې راوتي دي ـ نو دا څهٔ اسان کار نهٔ دے د دې مسلې د حل د پاره به تاريخ ته رجوع کولے شي ـ او ظاهره ده چې په شروع کښې ژبې د خپلو وړومبنو مرحلو نه تېرېدلې ـ نو دغه وخت د انسان نه علاوه بل څهٔ داسې محلوق وهٔ چې د تاريخ نګارۍ دا اهم فريضه ئې سر ته رسولې وي ـ دې سلسله کښې به د مشهور ژبپوهان (فلالوجسټ) ښاغلي حسېن بخش کوثر غورياخېل دا خبره په ځاے وي ـ

"چې تر څو پورې مونږه د يوې ژبې رش ريښه مونډ او وېخ نهٔ دے صحيح کړے نو مونږه داسې هيڅ کله نهٔ شو کولے چې د دې ژبې پلانکے تورے د پلانکے ژبې توري څحه وتے وتے ـ ځکه چې د غرونو له رويه د نړۍ ډېر توري يو رت بله مشابهت لري ـ ولې د توکو له جهته د هغوي په مرادونو کښې د اما او کما لرے والے به وي " (د پښتو لسانياتي تاريخ)

لکه څنګه چې وړومبے ووئيل شو چې د انسان ابتدائي کېفيت هم د ماشوم د ابتدائي کېفيت سره سمے او مطابقت خوري ځکه چې ماشوم د پېدائش سره سم د يوې ژبې سره هم اشنا وي ـ دا خو بيا چې هغه ته کومه ژبه وښودلې شي هغه ذده کوي ـ کهٔ چرته يو ماشوم دلته پېدا شي او عربو ته ئې ولېګو نو د خپلې مورنۍ ژبې نه به بې خبره په عربۍ ژبه کښې خبرې اترې کوي او کمال ته پکښې رسي ـ نو له دې حقيقته دا صفا څرګندېږي چې د يو انسان ځانله څهٔ محسوسه يا انفرادي ژبه نشته ـ بلکې کوم ماحول او معاشره کښې د هغهٔ روزنه او پالنه وشي هم د هغې ماحول او معاشرې د لارو کوڅو د کورونو کوڅو او مکتبونو ژبه د هغه خپله ژبه شي ـ نو د دې نه مونږ په دې نتيجه رسو چې حضرت ادم د جنت نه پس د زمکې په کومه حصه اباد شو ـ نو هم د هغې ځائے ژبې د ټولو نه د اولنۍ ژبې اعزاز حاصل کړو ـ د ځينو مورخينو او محقيقونو له رويه دغه زمکه د سرلنکې وه ـ چې دغلته اوس هم د ادم پل د غر د يو لوے ګټ د پاڅه د هغه نښان موجود دے چې سېلانيان ئې ديدن له ورځي ـ خو د الهامي رواياتو له رويه دومره وئيلے شي چې دغه خطه او ځائے د عدن په نامه بللے شي او د هغې ځائے د اولس د وسېدونکو ژبه سورياني وه ـ

په ژبه د بحث کولو په حواله دا هم يو ډېر ضروري او اهم سوال دے ـچې د ابجد يعنې حروف څنګه په وجود کښې راغلل ـ د دې په جواب کښې دا وئيلے شي چې قدرت د انسان د پيدا کولو په وخت ورته د ابجدو سرمايه هم وبخښله او د ابجد هم د سريانۍ ژبې الفاظ دي ـ لکه چې مولوي فضل ودود صاحب ليکلي دي ـ

"ابجد د سريانۍ ژبې الفاظ دې چې په حضرت ادم ع ، ادريس ع ، نوح موسیٰ ع او عيسیٰ ع باندې نازل شوي دي ـ " ( حروف ابجد يا حروف جمل مقاله مولوي فضل ودود) لکه څنګه چې د هر وړوکي ماشوم د ژبې نه هغهٔ کهٔ د هر ملک وي آ ، با ، تا، ا او دا غوندې اوازونه په خپله د خلې نه راوځي ـ نو انسان هم د دغه اوازونو نه د ابجد بنياد اېښودے دے ـ لکه د آ نه الف د با نه ب د ما نه م او د دا نه د غوندې ټکو شکلونه متعين شوي دي ـ هسې خو د خروف تهجي شمېره په مختلفو ژبو کښې مختلف وي ـ خو د هغې ټولو منبع او ماخذ يو دے ـ په حروف تهجي کښې د شمېرې د ا فرق په دې وجه هم دے ـ چې د ځينې قامونو د اوازونو د صوتياتو د باريک نه باريک اړخ هم په نظر کښې ساتلي شي ـ نو داسې ئې ډېر حرفونه او ټکي يا توري جوړ کړي دي ـ او ځينو قامونو غټو غټو اړخونو ته پام کړے دے ـ په دې وجه ئې حروفونه جوړ کړي دي ـ

دې سره دا خيال هم رپيدا کېږي چې د حروف تهجي شکلونه يعنې په ليکلي شکل چې په کوم اصول باندې مقرر شوي دي ـ خو کله چې د حروفو په شکلونو باندې نظر واچولے شي ـ نو دا خبره مخې ته راځي چې د مختلفو اهم څيزنو په شکلونو د حروفو شکلونه جوړ شوي دي ـ د انګريزۍ الفابېټس د لاطيني نه اخستي شوي دي ـ د ديو ژبو د حروف تهجي د جوړولو په وخت دا اصول هم په نظر کښې ساتلي شوي دي ـ چې د يو حروف د ادا کولو په وخت چې د خلې نه کوم شکل جوړ شي ـ د عربۍ په ابجدو د غور کولو نه پس معلومه شي چې عربيانو د بېت کور په شکل ے او د حمل (اوښ)په شکل ئې د (ج) مشکل وټاکل او هم په دغه طريقه ئې نور ډېر حروف وضع کړل ـ

پښتو ژبه کښې دغه مثال په وړومبي ځل د پښتو د معلوم اولنې نثر مسجع او مقفع کتاب خېرالبيان کښې په نظر راځي ـ چې ليکونکے ئې بايزيد انصاري پير روښان وهٔ ـ د خپل دغه کتاب نه صرف په څلورو ژبو عربۍ فارسۍ او هندکۍ کښې ليکلې دے ـ بلکې په پښتو الف بي يعنې حروف تهجي کښې ئې د دريالسو مخصوصو تورو اضافه هم کړې ده ـ لکه چې بايذيد روښان خاص مريد او پښتون نامتو شاعر شېخ دولت الله لواڼې په خپل دې بېت کښې ورته اشاره کړې ده ـ

**افغاني لفظ مشکل و لوست کوېښ نه شومه**

**ورته وشو کننده ديارلس خرفونه**

د خېر البيان مقدمه ليکونکي عبدالقدوس هاشمي صېب د دې شعر په حواله ليکي چې ! "غالبا د دې نه ښاغلي عبدالشکور رشاد دا نتيجه اخلې چې د دهٔ پښتو رسم الخط رساله ليکلې ده خو بل ځائے د دې رسالې ذکر نشته ـ او تش د دې شعرونو نه دا قياس کول ګران دي ـ" ( د خېر البيان مقدمه مخ ۱۱۹) ـ

بهر حال مونږ د ابجدو او د تهجي حرفونو نه پس اعرابو ته راځو ـ چې د دنيا په هر ژبه کهٔ غور وکړے شي نو په لفظونو ټکو او تورو کښې د تلفظ د حرکاتو يعنې د زېر زبر او پېښ موجودګي خامخا وي ـ جذم او شد دوه جدا جدا حرکتونه دي چې خپل خپل مخصوص عمل کوي ـ دا ټول حرکتونه او اے د تلفظ مطابق

جوړ کړے شي ـ کله چې مونږ د خپلې ژبې کوم خاص ټکي وايو نو زمونږ د خلې شکلونه ورسره هم بدلېږي رابدلېږي ـ د تلفظ دا ادائيګۍ په وخت کۀ د خلې تصوير وويستے شي ـ نو د دې اندازه به ډېره ښۀ وشي ـ بس د خلې د دې مختلفو شکلونو په وجه د اعرابو بنياد کېښودے شوے دے ـ

بايزيد انصاري چې "خېرالبيان" پښتو څنګه ليکلې ده يعنې کوم حروف ئې استعمال کړي دي ـ د هغې په حقله محمد عبدالقدوس قاسمي صاحب ليکلي دي چې " په دي حرفونو کښې ټ ، ځ، ډ، ړ، ښ، ګ، هم په دغه رنګ اوس هم مسعمل دي ـ دال د لاندې نقطې په ځاے اوس ځ ، او دال په منيځ کښې نقطې په ځاے ژ استعمالېږي ـد س د لاندې درې ټکي پخوا په فارسۍ کښې هم وو ـ او متروک دي ـ ګ بايزيد دوه ځله ليکلے دے چې مونږ ئې په فرق پوهه نۀ شو۔ خاصه خبره د ڼ ده استعمال ده ـ چې اوس زمونږ په علاقه کښې نړ ليکلے کېږي ـ" (مقدمه خېرالبيان)

اشارې او کنائې هم د ژبې سره سم رارواني دي ـ د لفظونو سره هم د دې نه ښۀ پوره کار اخستے شوے دے ـ او اوس ترې هم اخستلے کېږي ـ د مثال په طور له لاس يا ګوتې نه ښے او ګس اړخ ته حرکت ورکړے شي نو د دې نه به مونږه د نا مطلب اخلو ـ او په سينه د لاس کېښودو مطلب به دا وي چې خبره ومنلې شوه ـ او د لاس د وچتولو مراد دادے چې يا خو د اېښودو مطلب دا وي چې د چا خبره ومنلې شوه او د لاس وچتولو مراد دا دے چې يا خو د چاسره اتفاق کول دي يا مخالفت او که سر له د ښکته نه پورته طرف ته حرکت ورکړې شي نو مطلب ئې او وي ـ غاښونه چيچل او يا په ژبه چک لګول د غصې علامت وي ـ د خلې راټولو يا خو د نفرت يا د حېرت علامت وي ـ سر ټيټولو يا سجدې کولو نه د عاجزۍ يا خاکسارۍ علامت اخستے کېږي ـ له تاوېدلو د انسان د خوشحالۍ څرګندونه کېږي ـ عرض دا چې هم دې اشارو کنايو ته د وسعت ورکولو په سبب د سائنس بنياد اېښودې دے ـ شارټ هېنډ څۀ څيز دے ؟ هم دغه اشارې دي چې په يو خاص انداز کښې ورله ترتيب ورکړے شوې دے ـ له دې نه دا ثابته شوه چې د اشارو کنايو خپلو کښې ښۀ کلک تړون دے ـ د دنيا په هر څيز کښې تغير او تبديلي راځي ـ څۀ څيزونه خو دومره ترقي وکړي چې د کمال تر حده ورسي او څۀ څيزونه خو دومره وغورزېږي چې د زوال په ژورو تيارو کښې کښې ورک شي هم دا قانون په ژبو هم اثر انداز کېږي ـ د انسان دا اولنۍ ژبه به صرف د اشارو او تلفظ په شکل کښې وه ـ بيا لفطونه د ترقۍ د مختلفو مرحلو نه تېرېدل او بدلېدل ـد ماشومانو په ژبه کۀ غور وکړے شي نو وړموبے خو د هغوي تلفظ صحيح نۀ وي او نۀ ئې ترتيب او ترکيب خو ورستو ورو ورو د هغوي د لفظونو لفظونو ادائيګي هم شروع کړي ـ هم دغه ځال د ژبې په ابتدا کښې وي ـ د دنيا د ترقي ژبو جائزه اخستو سره هم دا حقيقت په سړي رابرڅېره شي چې ژبې ےرډېرې مودې پورې د عروج او ارتقاء په بام د پاتېخېدو سره سره د فصاحت وبلاغت جامعيت او اکمليت په اخري پوړۍ ځاے ونيسي ـ

هره ژبه ارتقائي عمل کښې د ډېرو مراحلو نه تېرې ـ وړومبے خو د لفظونو ذخيره کمه وي او بيا په مختلفو وختونو کښې زياتېږي او هم دا شان ښکلي او جامع لفظونه د ژبې په حسن کښې نوره هم اضافه کوي ـ په لفظونو کښې د معنوي حسن سره سره ژورتيا هم پيدا کېږي ـ او بيا ورو ورو په ژبه کښې د مختلفو مضمونونو د بيانولو د اظهار کولو پوره قدرت هم حاصلېږي ـ داې ادب او فن هم تخليق کېږي او دغه ادب او فن د يوي معاشرې د ثقافتي پنګې په څېر خپل شکل څرګندوي ـ

زمونږ پښتنه معاشره خداے ذده د څومره کلونو راهسې د امو او اباسين د دواړو لويو دريابونو تر منځه د غريزې او هوارې زمکې په سر اباده او ودانه ده ـ دې معاشرې تر اوسه د يو قبائيليمعاشرې د ژوند طرز خپل کړے دے ـدې کښې تمدن ارتقائي راغلے دے او ژبې او بيان پکښې وده کړې ده ـدا قبائل اګر چې د تاريخ په هر دور کښې د يو بل سره غوښه په چاړۀ پاتي شوي دي ـ خو دوي همېشه هند او سند ته تلي او هلته ئې فتوحات حاصل کړي دي او سلطنتونه او حکومتونه ئې قائم کړي دي او هم هلته ئې د خپل قبائيليت نام او نشان مکمل ورک شوے ـ د هندو او سند او تور دکن په مستقبل سکونت کښې ئې خپله ژبه خپل ادب او خپل ثقافت هم له ځانه نۀ دے جدا کړے ـ دې سلسله کښې د پروفېسر محمد نواز طائر صاحب دا خبره انتهائي وزني ده چې !

"خپله قدېمه جغرافيائي محل وقوع کښې دننه پښتانۀ قبائل د صديو راهسې په ژبو په يو لوے عجايب ګر ميوزيم کښې وسېږي ـ د دنيا يو خطه به څۀ ووايم که داسې وي چرته چې په يو جغرافيائي وحدت کښې دننه په دومره ګڼ شمېر کښې مختلف النوع ژبې د وېناوي او لهجې وئيلې شي ـ خپله پښتو ژبه قريباً شپږ سوو لهجو کښې خوره وره ده او اندازً هر لس کلو ميټره پس په لهجه کښې دا بدلون څرګند په نظر راځي ـ" (پشتو اور ديگر پاکستانی زبانوں کے بين السانی روابط اور مشترکہ ادبی رجحانات ، صفحہ نمبر ۱۷۹)

د پروفېسر مارګن سټرائن تر مخه د امو او اباسين تر منځه اباده حطه کښې تقريباً پنځويشت ژبې وئيلي شي خو پروفېسر صاحب په هم دا مقاله کښې وائي !

"له دي قطع نظر شمالي صوبه پښتونخوا او د پاکستان په شمالي علاقو کښې وسېدونکي د مختلفو قسمونو قبائل او قامونه هم په خپلو خپلو مختلفو ژبو او لهجې سره د پښتو ژبې يونکيو سره په ګاونډ کښې اباد دي ـ دې کښې کۀ يو پله کشميري ، بلتي





، ګوجالي، مومن ، اباتي ، هنزائي ، اوشين ، قامونه د ذکر قابل دي ـنو بل طرف ته هغه متنوع قبائل دي چې جالکوټي ، پاليسي ، کورلائي، ټېري ،بدېشي ،مولي منزري ، ګوجري ، اجړي ، چېلاسي ،چيل دري ، کالامي کېداني ،توروالي ،مانکيالي ، باشقاري ، قشقاري ،کچ داچوئي ،کهوار ، کېلاش ، او ګانډي ژبې وائي ـ د ډېرې مودې نه دا واړه کوهستاني قامونه خپلو خپلو عرېزو درو کښې داسې بند وو چې بهرنۍ دنيا سره ئې رابطه ډېره محدوده وه ـ محقق پروېش شاهين د ملاکنډ نه تر خنجراب او تر بلستانه پورې خورې ورې خطې ته د ژبو ځنګل وائي ـ""" (پشتو اور ديگر پاکستانی زبانوں کے بين السانی روابط اور مشترکہ ادبی رجحانات ، صفحہ نمبر ۵۵)

د ښاغلي محقق پروېش شاهين دا خبره په ګل بدله چې دا ټوله خبه د ژبو ځنګل دے خو د ژبو دې ځنګل کښې د مرکزيت او اوليت پښتو ته حاصل دے ـ ځکه چې د دې ټولو ژبو بو او لهجو يونکي که څۀ هم په خپله ژبه کښې د نزدې ګاونډي ژبو لغتونه پکاروي خو د ودونو ښادو په موقع دوي د پښتو سندرې وائي ـ بل پله منګوره چترال بشام ، او ګلګت وغېره ته د ښارونو او تجارتي علمي ، تعليمي او ثقافتي مرکزونو حېثيت لري ـ ځکه د دي فروغ له کبله پکښې د ژبې رابطې تعلق او ټرون د تېزۍ اصل وجه د امدروفت ذريع هم دي ـ پروفېسر نواز طائر صېبد قبائلو نه علاوه نور ټول ژبه ويونکي مسلمانان ګڼلي دي ـ ځکه نو دوي دا خبره ډېره وزني ده چې کۀ ددې ژبو ته مسلمانې ژبې ووئيلي شي ـ نو بې ځايه به نۀ وي ـ خو په دې خبره دا تنقيد هم ودېرې چې ژبې نۀ خو مسلمانې وي او نۀ کافرې ـ ژبې خو فقط د اظهار ذريعې وي البته د يو تحقيقي او معلوماتي خبرو سره ئې اتفاق ناګزېر دے ـ چې !

"د چترال کوهستان سياه او شمالي علاقو د ديو ژبو نه علاوه د پښتو ژبو د پخوا راهسې د هندکو ، لهندا ، پوټولرۍ ،سرائيکي ، ارمړي ، بلوچي ،براهوي ، او د نړيځې يا ترينو وغېره ژبو سره هم منسلک او پاتې شوې ده ـ داسې د دې ژبو ، ترمنځه ، د لفظونو او محاورو انتقال د يو بل د له ادبي رجحاناتو اثر اخستل يوه قدرتي او فطري خبره ده ـ خصوصي طورد ترکۍ ، فارسۍ او عربۍ ژبو هاغه بې شمېره لفظونه ، او اصطلاحات چې د عسکري او مذهبي ،او علي ضرورت تر منځه ، د ديو ژبو قبول کړي دي دېو ټولو کښې د يو مشترک قدر او حېثيت اختيار شوے دے."

د نزدې تاريخي حوالو نه دا هم ثابته ده چې په دې سيمه پرالخي ، تيراهي ، او شاردر هم وئيلي شوي دي ـويونکې ئې څۀ خو د نورو ژبو منطقو ته وکوچېدل ، او څۀ په پښتو او پښنتو کښې جذب شول ـد دې باوجود څۀ نا څۀ لساني اړخونه په متعلقه علاقو کښې د خصوصي توجه باعث وګرځي ـ

# د بنو مازديګر

پروفېسر طارق محمود دانش



**د بنو مازديګر په نظر مه شه زاهدان هم**

**چې چوک بازار ته رسي په تسپو سندرې وائي**

( راقم )

د بنو مازديګر ، چوک بازار او سندرې د قدرت هغه لاثاني او لازواله امتزاج دے کوم چې د نامعلومې زمانې راهسې نۀ يوازې دا چې راروان دے بلکې په خپل مکمل جوش او خروش سره تر دې دمه د نوي کهول په اعصابو راج هم کوي ـ او که د الله خوښه وه دا لړۍ به هم داسې روانه وي ـ اګاهو د دې نه چې د بنود مازديګر تذکره وشي غواړم چې د بنو په کلتور باندې سرسري رڼا واچوم ـ

د بنو د وجۀ تسميه پۀ حقله ارواښاد ګل ايوب سېفي په خپل کتاب " تاريخ بنو وزيرستان " کښې ليکي:

" بانو د بابا فريد عرف شيتک مېرمن وه او د هغې اولاد د بنوڅي يا بنوزي په نوم اوبلل شول ، او د هغې په وجه وروستو د بنو نوم مشهور شو۔

ښاغلے يوسف خان جذاب صېب په خپله مقاله کښې د سېفي صېب د نظريې رد کوي او د ځان په تائيد کښې څلور نظريې پېش کوي ـ

۱ـ بنو ته د بنو نوم ځکه ورکړلے شو چې د دې ځاي اوسېدونکي د شيتک د ښځې بانو د نسل نه وو۔

۲ـ يوۀ هندو مهاراجه خپله لور خپل نوکر دهني ته ور وادۀ کړه چې د ناخوابښۍ په وجه هغې ازار اوکړو، چې اثر يې د باران او ژلۍ په صورت کښې ظاهر شو د کومې په وجه چې هرڅۀ تباه او برباد شول ـ او د دې سيمې نوم بنو شو او اوسېدونکي يې بنوڅي شول ـ

۳ـ د درېمې نظريې ترمخه بانه ، سينو ، ګهيو او ټيمو څلور وروڼه وو ، کوم چې د هند بن حام د نسل نه وو ـ په دوئي کښې د بانه اولاد بنوڅي دي ـ

۴ـ څلورمه نظريه وائي چې د زال بادشاه زوي رستم دغه علاقه کومې ته چې هغه وخت اکره وئيل شول خپلې لور ته په جهېز کښې ورکړه په هغه نسبت سره دې سيمې ته بنواووئيل شول ـ

ولې د جذاب صېب موقف د دې نظريې نه جدا دے هغه ليکي :

" که څۀ هم په ديو کښې ړومبۍ نظريه زياته مقبوله ده ، د کومې ترمخه چې بنوڅي د شيتک د ښځې بانو د بانو اولاد دے ـ بيا هم داسې معلومېږي چې د دې نه مخکښې هم د بنو نوم بنو يا د دے ټکي سره نزدې نزدې څۀ ټکے وۀ ـ او دا محض يو اتفاق دے چې د شيتک مېرمن بانو او د هغې اولاد هم دلته راغلل اباد شو ـ "

خو دلته زۀ د يو بل محقق او مؤرخ راي هم وړاندې کول غواړم ـ پروفېسر شمشېرعلي خان صېب د ذکر شويو نظرياتو سره اختلاف لري ، بيا هم د يوسف خان جذاب صېب سره په دا خبره متفق دے چې د بانو نه مخکښې هم د دې سيمې نوم بنو يا د دې سره نزدې نزدې څۀ بل ټکے وو ـ هغه په خپل کتاب " بن باس " کښې ليکي :

" دا هم ممکنه ده چې د بنو وجۀ تسميه د ځنګلو ډېروالے وي ولې چې بنو د بن جمع ده ـ "

په دې لړ کښې ايډورډز ليکي :

" د ټول هندوستان په مقابله کښې په بنو کښې زيات بارانونه کېږي ـ دلته د شوو ( شيشم ) او توتانو ګڼ ځنګلونه دي ـ د اوبو د کثرت له کبله د ځنګلو زياتېدل ضروري دي ـ بنو د سنسکرت ټکے دے د بنو پخوانۍ ابادي هم په هندوانو مشتمله وه ـ د بنو ځنې کليو نومونه هم د سنسکرت نه ماخوذ دي ـ لکه ککي ، بهرت ، هنجل ، سوکړي ، من دېو ( مهادېو) ، شاه دېو ( شهادېو) وغېره کوم چې د هندو دېويانو او دېوتاؤ د نومونو سره موسوم دي ـ د بنو نه مراد د ځنګلاتو مسکن دے ـ په يوه حواله بنو په معنا د ځاي او مقام دے ـ بنوزي نه مراد هغه کس دے چې د چا مسکن بنو وي نۀ چې د بانو زوي ـ "

بنو يو پخوانے ښار دے ، د قدامت په بارې کښې يې ارواښاد ګل ايوب سېفي ليکي :

" د بنو تاريخي او تمدني ابتدا د ماهرين اثارقديمه په مطابق ۲۷۰۰ قبل مسيح نه شوې ده ـ "

د بنو نومورے مؤرخ ښاغلے طفېل احمد فېضي په خپل کتاب" بنو تاريخ کے ائينے مېن " کښې د بنو جغرافيائي خدوخال داسې واضحوي :

" د بنو سيمه په ۱۸۲۵ کښې باقاعده د انګرېز په عملدارۍ کښې راغله ، د ښار نوم يو انګرېز ډپټي کمشنر په خپل نوم ايډورډز کېښودو ـ هغۀ په خپل نوم د قلعلې نوم هم ايډورډکورټ کېښودو ـ په ۱۸۶۱ کښې بنو ته د ضلعې حېثيت ترلاسه شو ـ هغه وخت ميانوالي د بنو تحصيل وۀ ـ بيا هم د لارډکرزن پۀ زمانه ۱۹۰۱ کښې موجوده شکل ورکړلے شو ـ د دې ضلعې اکثريتي علاقه مېداني ده ـ مرکزي زمکه يې هواره او پاتې چاپېره غرونه خوارۀ وارۀ دي ـ

د بنو زمکه الله تعالے په هر قسم نعمت مړه کړې ده ـ په دې حقله ښاغلے يوسف جذاب صېب ليکي:

" د بنو زمکه ډېره زرخېزه ده د پخوا راهسې دلته نهري نظام موجود وۀ ـ چې له برکته يې دلته سمسور او شنۀ فصلونه ، مېوې او باغونه پائېږي ـ هم دې ګنجيو غرونو په مينځ کښې دې سيمې ته زمرد وئيلي شوي دي ـ

د بنو د قدرتي ښکلا نه انکار ممکن نۀ دے ـ دغه وجه ده چې مشهور انګرېز مصنف اېس اېس تهاربورن په خپل کتاب " بنو ار اوور افغان فرنټيئر " کښې د بنو د قدرتي زړۀ راښکون په اعتراف کښې داسې رقمطراز دے :

" د کابل اکثرې مېوې دلته په زرعي صورت کښې پېدا کولې شي ـ د بنو نيمبوان ، توتان او خربوزې ډېرې ذائقېدارې دي ـ د قدرت بې پناه نوازشونو د بنو نه جنت جوړ کړے دے ـ " د بنو په سينه کښې د څو پخوانيو تهذيبونو ملغلرې دفن دي لکه " اکره "

ښاغلے حيات خان په خپل کتاب " حيات افغاني " کښې ليکي :

" اکره په يوناني ژبه کښې قلعې ته وائي ـ دا ځاي د موجوده بنو ښار نه د نهو۹ کلومېټرو په فاصله پروت دے ـ د دې سطح د عامې زمکې نه ۲۰۰ فټه اوچته ده ـ داسې ښکاري لکه دا به چې په پخوا زمانه کښې به دا څۀ عالي شانه قلعه وي د دې ځاي اړيکې د يونانيانو سره ملاوېږي ـ دا ځکه چې کومې سکې دلته نه په لاس راغلې دي په هغو کښې په اکثرو باندې يوناني حروف او علامات نقش دي ـ دا سکې دوه زره کاله پخوانۍ دي ـ دې سره سره د هندو راجاګانو سکې هم دريافت شوې دي په کومو چې د سنسکرت ژبې حروف رقم دي ـ

د بنو زمکه الله تعالے د په څلورو موسمونو ځانځلې ده ـ دلته زمکه د ربيع او حريف دواړه فصلونه پېدا کوي ـ د کومې په نتيجه کښې چې يو طرف ته د غلې انبارونه په لاس راځي او بل طرف ته رنګا رنګ مېوې ملاوېږې ـ دغه وجه ده چې د خلقو زياته برخه کرکېلې سره تړلې ده ـ د دې ځاي خلق د ټېنشن د ترقۍ نه محفوظ دي او خوشحال ژوند د غلام په شان لاس په نامه ورته ولاړ دے ـ

د بنو د اوسېدونکيو مزاج اجتماعي او سحرخېز دے ـ دغه وجه ده چې دلته د ورځ د نورو ښارونو په نسبت وختي شروع کېږي ـ او د سحرخېزو خلقو ورځې هم اوږدې وي ـ ځکه د ماسپېښين ځانځۀ پورې هرچا خپل کارونه خلاص کړي وي او مازديګر په اجتماعي صورت کښې تېروي ـ چې نتيجه يې اجتماعي رواياتو او ځانګړي کلتور په صورت کښې مخته راځي ـ

ثقافت یا کلتور څۀ ته وائي ؟ لږ غونډې رڼا په دي هم اچوو۔

د پوهانو په نزد کلتور د معاشرتي ژوند دويم نوم دے ۔ ثقافت په معاشره کښې د موجودو غړيو په مينځ کښې يو داسې ترون دے په کوم کښې چې هغوئي مناسب معاشرتي قدرونه ، انساني تاريخ او په رسم او رواج باندې عمل درامد ممکن جوړوي ۔

مونږ چې کله د يوې معاشرې برخه يو نو مونږ ته پته لګي چې :

مونږ څوک يو ؟ ، مونږ ته څۀ کول پکار دي ؟ ، کوم څيزونه معاشرې د پاره ضروري دي ؟ او کوم څيزونه داسې دي چې د هغو په کولو او نۀ کولو څۀ فرق نۀ پرېوزي ۔ د دې اطوار په بنسټ د معاشرې برخه جوړېدلو سره سره مونږ په خپلو عاداتو او اطوارو کښې هم ښکلا راوړو ۔

په دې اړه د معاشرتي علوم زياتره ماهرين د ايډورډ ټيلرډ کلتور هغه تعريف سره متفق دي ، د کوم په مطابق چې يو داسې جامع مرکب چې علم ، عقائد ، ارټ ، اخلاقيات ،قانون روايات او هغه ټول صلاحيتونه کوم چې انسان د دې معاشرتي ترون برخه جوړېدلو په باب کښې د معاشرې نه زده کوي مشتمل دي ۔

د دې مطابق کلتور د هغه ټولو څيزونو د يووالې نوم دے ، کوم چې انسان د پېدائش نه ترګه پورې زده کوي ۔ يعني د خوراک ، څښاک لوازماتو نه واخله تر لباس ، رنګ او جوړښت پورې ، د عام ژوند د روزمره څيزونو او مکمله روزنه په شمول د يو انسان ترلاسه کړي تمام تر تخليقي صلاحيتونو کوم چې دے د معاشرې نه زده کوي ۔ دا ټول څيزونه د کلتور په ضمره کښې راځي ۔

لاندې د کلتور په اړه د يو څو معتبرو پوهانو وړاندې کړي شوي تعريفونه درج کولے شي ۔

مارګرېټ ميډ د ثقافت په تعريف کښې ليکي :

" ثقافت د يوې معاشرې يا طبقې د شريکو زده کړيو شويو رويو نوم دے ۔ "

د ثقافت په بابله چيفرډ ګيرټ داسې ګويا دے :

" ثقافت د هغو قيصو نوم دے کومې چې مونږ ځان ته اوروو ۔ "

براونسلېن مېري واسکي د ثقافت تعريف داسې کوي :

" ثقافت يو داسې اختراعي وحدت دے ۔ کوم چې په دوو اساسي اړخونو کښې تقسيم دے ۔

يو خو د رسم و رواج نظام دے او بل د انساني لاسونو داسې تخليق کوم چې د دې د خالق او صارفينو په اړه معلومات فراهم کوي ۔ "

دامېريکن هېريټېج ډکشنري په مطابق :

ثقافت د معاشرتي ژوند نه د منتقل کېدونکيو رويو ، قانون ، عقائد ، دورونو او د انساني سوچ او عمل د تمامو تخليقاتو نوم دے ۔

د ډکشنري اف ماډرن سوشيالوجي په مطابق :

ثقافت يو داسې ګل دے په کوم کښې چې د منظم ژوند تېرولو طريقې ، د دورونو او قدرونو معيارونه او معاملات وغېره شامل دي ۔ چې انسان يې زده کوي او نسل در نسل يې منتقلوي ۔

د ثقافت د بره رقم شويو تعريفونو په رڼا کښې که يو خوا د ګردې پښتونخوا په شان په بنو کښې ګڼې هڅې ، تخليقات ، رجحانات ، مېلانات ، مکانات ، خوراک ، پوشاک ، عادات ، اطوار ، تهذيب وتمدن او د غم او خوشحالۍ په صورت کښې نرخ او رواج په نظر راځي ۔ نو بل طرف ته د بنو مازديګر هغه ځانګړے شغل دے چې په ګرده نړۍ کښې يې ثاني په نظر نۀ راځي ۔

د بنو مازديګر د بنو په ټولنيزو رواياتو کښې يو زړۀ راښکونکے روايت دے ۔ او دغه روايت زمونږ د دې مقالې موضوع هم ده ۔

وادۀ چې د هر انسان فطري تقاضا ده ، دا تقاضا په بنو کښې د غېرمعمولي دلچپۍ سره په نظر راځي ۔ نۀ يوازې دا چې د مکملې خوبۍ او ښکلا سره پائې ته رسي بلکې د نورو ډېرو علاقو په نسبت زياته مناسبه او ارزانه هم ده ۔ دا ځکه چې د بنو نه بره په قبائلي او غرېئيزو علاقو کښې عمومي رواج دا دے چې د يو ځوان د وادۀ ارمان تر هغه وخته پورې نۀ شي پوره کېدلے تر څو يې چې د خپلې ځوانۍ لس ، دولس کاله د عربو په پښو کښې خاورې نۀ کړي ۔ کله چې لس دولس کاله مزدوري اوکړي او د شېخانو نه په اجرت اخستلو کښې هم کامياب شي نو هله چرته د وادۀ دستار په سر اوتړي ۔ او د بنو نه لاندې علاقو يعني د پنجاب په ثقافت کښې لور نۀ يوازې بوج ده بلکې که د يو سړي لوڼه د دو نه تجاوز اوکړي نو د لوڼو د جهېز ذمه واري د خپل پنشن سره هم نۀ شي پوره کولے ۔ ولې د بنو په سيمه د الله تعالے خصوصي کرم دے چې په کښې د ادم زوي بوج دے او نۀ د حوا لور ۔

دلته اکثر وادونه د تکلفاتو نه پاک په انتهائي سادګۍ سره سر ته رسي ، د رشتو د غېر معمولي ارزښت په وجه په يوه جوړه يا په سپين څادر کښې هم د وادۀ ارمان پوره کېدلے شي ۔ هم دغه وجه ده چې دلته د نورو علاقو په نسبت د وادونو شرح زياته ده ۔ عموما هره ورځ او په خصوصي توګه د جمعې او اتوار په ورځ د وادونو تابيا کولې شي ۔

په اوله مرحله کښې د زلمي او جينۍ کوژدن وشي ، په کوژدن کښې ډزې وشي دې دپاره چې د علاقې خلق خبر شي چې په دا جينۍ د بل چا حق ازدواج ختم شو ، دا د چا په نوم شوه ۔ څۀ موده پس کله چې دواړه کورنۍ د دې جوګه شي چې د وادۀ رسومات تر سره کړي نو د دواړو کورنيو مشران سره کښېني او د وادۀ نېټه وټاکي دې عمل ته واک لنډول وئيل شي ۔ د ناوې د شپې نه يوه ورځ مخکښې د نکريزو شپه نمانځلې شي چې په کورونو کښې پېغلې او په حجرو کښې ژلمي په نکريزو کښې موم بتۍ ولګوي ، بلې يې کړي بيا د ګډا او سندرو سره په ټول کلي کښې وګرزوي ، بله ورځ د ژلمي د کور نه جنج په دهوم دام ، شان او شوکت سره روان شي ، د ناوې کور ته لاړشي ، هلته نه په ډولۍ کښې ناوې راواخلي او د ډول سرنا او موج او مستۍ سره يې د ژلمي کور ته راوړي ۔ په جنج د روټۍ خوړلو او د ماسخوتن نمانځۀ نه پس د نکاح رسم ترسره شي او بيا د شپې ناوخته پورې مشران صبا د پاره د خوړو په تيارولو بوخت وي او ځوان کهول د ځوانۍ په نشه کښې ډوب په ګډا او سندرو شپه تېره کړي ۔

بله ورځ د ژلمي کور په رابلليو خپلو خپلوانو او يارانو دوستانو باندې د يو خاص قسم روټۍ خوروي چې ورته پينډه وئيل شي ۔ دا سلسله تر ماسپښينه پورې دوام لري ۔ د مازديګر نه مخکښې کليوال او د باهر نه راغلي ميلمانۀ ژلمي د وادۀ د دوئيمې او مهمې سرګرمۍ د پاره تياري شروع کړي ۔ د موقعې په مناسبت سره تيارې شوې جامې اچوي او غلي غلي د حجرې انګڼ کښې چې ورته چوک وئيل شي راغونډېږي او د ډول په تاپ سره په روان اتڼ کښې شريکېږي او بل طرف ته شهنائ په خپل سريله اواز کښې داسې په هوا کښې کور کور ته رسېږي لکه پاتې ژلميو ته چې د روانېدو خبر ورکوي ۔ چې په نتيجه کښې يې پاتې ځوانان هم چوک ته راورسېږي او په اتڼ کښې شريک شي او د پوره کېدو سره ډول ته لاس بدل شي او خلق پوهه شي چې روانېږو ۔ او اوس ژلمي د ډول په تاپ او شهنائي په سر او د ځوانۍ په نشه کښې داسې په ناز او مستۍ کښې د ښار په لور روان شي لکه دوئي چې په زمکه نا بلکې د دوئي لاندې روانه وي ۔

د دنيا او ما فيها د غمونو نه بې پرواه لس دولس ځوانان روان په هوا کښې داسې لاسونه خوزوي لکه رقص چې روان وي ۔ څنو د خپلو زړو منونکيو په يوه يوه اوږه څادرونه اچولي وي او دويمه اوږه له نازه داسې کږه وړي لکه د فاتحينو فوج چې مفتوحه علاقې ته ګډېږي ۔ د چا په غوږونو کښې د ګلاب ګل يا د رېحان ګلونه او د چا په سينو د رمبېلو او مالې ځانګي او خپله خپله خوشبوئي په روانو ژلميو شندي ۔ لکه د ځوانۍ ټولې چينې چې د دې ځاي نه راوځي ۔ په ښار کښې د هر کلي خپل خپل يو مرکزي ځاي وي هلته او يا پارک ته لاړشي هلته د وادۀ ژلمے په ټولو ملګرو ژلميو باندې چاي اوڅښي او خواږه اوخوري ۔ دې نه پس ټول د جماعت سره د مازديګر نمونځونه وکړي دې نه پس د څلورو اطرافو نه په مکمل جوش او خروش او مستۍ سره ځواني د سېلاب په صورت کښې څپې وهي او د اتڼ په صورت کښې غورځنګونه وهي او چوک بازار ته ګډېږي چرته چې د ځوانۍ ټول رنګونه د اتڼ د بېلا بېلو دائرو په صورت کښې په نظر راځي ۔ بلکې مونږ به دا اووايو چې دلته د ځوانۍ الوت د عروج بام ته اورسي ، دلته د هر کس په حواس خمسه د شباب د

رنګونو احساس غالب شي ـ لکه شاعر چې وائي :

**ماته خو به خپله ځواني اور شي خداي دې نۀ وکړي**

**يو چې ګل او بل د بنوګل مازديګر نۀ لرم**

( راقم )

په چوک بازار کښې يو خو هغه مستقل دکانونه دي چرته چې د خوشبويانو سره سره د رنګين کاغذونو او د نوټونو هارونه تيارېږي او خرڅېږي کوم چې وار په وار د وادۀ ژمي ته ورپه غاړه کېږي ـ نو بل طرف ته د ګل فروشو په لاسونو کښې واړۀ واړۀ دکانونه چې د رمبېلو ، چمبېلو او د لونګو د تروتازه هارونو او مالو خرڅولو سره سره خوشبويانې په فضا کښې مفتې خوروي ـ او ځنو کسانو د نرګسو ګلدستې پۀ لاسونو کښې نيولې د خريدارانو انتظار کوي ـ ځنې ګل فروش خو دومره واړۀ واړۀ او معصوم وي چې  په خپله د ګلاب نه کم نۀ ښکاري لکه شاعر چې وائي :

**خپل ګلاب دے خو په خپته چې نهر دے**

**په بازار کښې خرڅوي د ګلاب پاڼې**

( راقم )

چې څۀ رنګ څۀ وخت تېرېږي ، داسې داسې د ډول په ګوته کښې هم تېزي راځي چې براه راست اثر يې اتڼ په درجۀ حرارت باندې پرېوزي ـ ورو  ورو د ځوانۍ پياله ډکېږي شهنائي ګانې د مستۍ په څپو کښې ژمي ځنګوي ـ دا روايتي اجتماعي ګډا يعني اتڼ  پښتانۀ بغېر د ملا او د امي د تميز نه د ثقافت لازمي برخه ګڼي او د قدر په نظر ورته ګوري ـ خو که څوک د اتڼ د اخلاقياتو دائره ماته کړي او بازاري ګډا شروع کړي نو د محترم ممتازعلي خان ممتاز صېب په شان مزاحيه او طنزيه شاعر هم په بې باکۍ سره په داسې شاعري کولو مجبور شي :

**په چوک بازار کښې د ډولو مخې ته**

**سياله! راځه که پښتانۀ ګورې**

( ممتازعلي خان ممتاز )

دا په بنو مازديګر د نوي تهذيب د هغه حملې اثر دے کوم چې د حجرو د تربيت نه محروم کلب زده ځوانانو خاصه ده ـ  د دې نوي تهذيب شاخسانه ده چې کله د نوي  نسل ځوانان چوک بازار ته رسي نو يو خاص قسم ځلېدونکي توکي اخلي چې ورته پرخه وئيل شي او د يو بل په هغه مخونو يې مژي کومو مخونو ته چې د معمول په ژوند کښې په خيرن نظر کتلو هم پښتانۀ مړي کوي ـ دا شرمناک حرکت د پښتون تهذيب نه خبر مهذب  پښتانۀ  چرې هم د پښتون تهذيب منلو ته تيار نۀ دي ـ او نۀ ورته د بنو مازديګر وائي ـ بلکې همېشه يې د طنز غشي پرې ورولي دي ـ څو پورې چې ډول ، سرنا او اتڼ په خپل حقيقي صورت کښې موجود دي نو د بنو مازديګر دا خاصيت دے چې په زور هم په نړۍ ځان مني ـ او په خصوصي توګه شاعران حضرات خو په بنو مازديګر مئين دي ـ د بنومازديګر د ستائيلو نه اګاهو زۀ اول د اروابښاد اجمل خټک صېب هغه ملفوظات وړاندې کول غواړم  کوم چې د بنو د دورې پرمهال خداي بخښلي باچاخان ورته ارشاد کړي وو ـ اجمل خټک صېب په خپل کتاب " قيصه زما د ادبي ژوند " کښې ليکي :

" زۀ په ړومبي ځل دې ښار ( بنو ) ته د باچا خان سره راغلم او چې راتلم نو باچا خان راته دوره کښې اووېل چې " خټکه ! اوس به مستي او جوش اووينې " رښتيا چې بنو ته نزدې شو نو خلق زمونږ استقبال ته لتمبر ته راوتلي وو ـ خو د سياسي جلوس په شکل کښې نه ، بلکې د کلتوري مېلې په ډول ـ يعني شلګونه ډولونه او ګډاګانې او ډزې وې ـ او هر چا ټوپونه وهل خوشحالي او مستي يې کوله ـاو پښتني جوش او خروش اظهار يې کولو ـ او يوازې دا نۀ بلکې ټول بازار يې لکه د ناوې سنګار کړے وۀ ـ حکومت پرې فشار راوړے وۀ  چې دا هرڅۀ مه کوئ ـ  ولې د دې باوجود د بنو د پښتنو بابا او خپل سياسي مبارز مشر ته خپله مستي مينه او ښکلا ښکاره کوله ـ

يو ځل مونږ سره عبداصمد خان اڅکزے بابا وۀ  هغۀ چې دا تماشه وليده ، نو دومره مستي پرې راغله چې په ازاد موټر کښې ودرېدو او د خلقو سره د ډول په وزن  لاس غورځول او سر ښورول ( ګډا) يې شروع کړه ـ بل ځاي مونږ سره د مشرقي بنګال ( اوس بنګلادېش ) تر ټولو ستر ليډر عبدالحميد خان بهاشامي او د هغۀ ملګري وۀ ـ هغۀ چې دا وليدل نو ويې وېل : چې " دا خلق څنګه غلامان کېدې شي ؟ " ـ

 دا منظر د بنو د اکثرو شاعرانو په غزلو ، سندرو او نظمونو کښې په کثرت سره ملاوېږي ـ د نمونې په توګه څو مثالونه وړاندې کوو۔

ښاغلے غازي سيال صېب څوک چې د شعر او ادب په حواله نۀ يوازې د بنو بلکې په ګرده پښتونخوا کښې د قداور شخصيت مالک دے او په خصوصي د سندرې خو بابا دے ـ هغه په خپله شعري مجموعه " رنګونه بهارونه " کښې " د بنو مازديګر " ترعنوان لاندې نظم کښې څۀ دا رنګ ګويا دے :

**دا څومره ښائسته يې راته مه شې د نظره !**

**د  بنو  مازديګره**

**قربان  د  اخترونو  نه  دې  هر  ورځ  اختره  !**

**د  بنو  مازديګره**

**تۀ ډک د رنګينۍ يې**

**ښکلا د زندګۍ يې**

**مستۍ او د شوخۍ يې**

**جولۍ دې ډکه اوسه تل د مينې له اثره**

**د بنو مازديګره**

**قربان د اخترونو نه دې هر ورځ اختره !**

**د بنو مازديګره**

**ته ښار يې د ګلونو**

**مزې او د خوندونو**

**د ښکلو منظرونو**

**د مينې او خلوص ، ننګ او يا ښکلے پېکره !**

**د بنو مازديګره**

**قربان د اخترونو نه دې هر ورځ اختره !**

**د بنو مازديګره**

**راغونډ د کلي کلي**

**زما د بنو ښکلي**

**دي څومره نازولي**

**د دنګو دنګو غرونو په سرونو زيړے نمره !**

**دبنو مازديګره**

**قربان د اخترونو نه دې هر ورځ اختره !**

**د بنو مازديګره**

**ډولونه چې ډنګېږي**

**زلمي ورته ګډېږي**

خندېږي خوشحالېږي

د ډول سره " سرنا " په کښې" سر"پوره ته کړي د بره

د بنو مازدیګره !

قربان د اخترونو نه دې هر ورځ اختره !

د بنو مازدیګره

حسینو کښې حسین یې

د ژوند په رنګ رنګین یې

د خپل تهذیب امین یې

هم وې به پېښور خو نۀ یې کم له پېښوره

د بنو مازدیګره

قربان د اخترونو نه دې هر ورځ اختره !

د بنو مازدیګره

دا پېغلې حیاناکې

د هرڅۀ نه بې باکې

حسینې پاکې پاکې

عظمت د لوپټې یې چرې پرې مه وځه له سره

د بنو مازدیګره

چې هر موسم راغلے

تا هر موسم کتلے

په هر موسم کښې ښکلے

خوره شوې په فضا کښې تۀ د سیال یوه سندره

د بنو مازدیګره

قربان د اخترونو نه دې هر ورځ اختره !

**د بنو مازدیګره**

د راقم الحروف یو نظم " نکریزي " چې په کښې د بنو مازدیګر مکمله خاکه په نظر راځي ، یو څو بندونه یې داسې دي :

هغۀ مازدیګر چې په رمبېلو سازېدلو به

هم چې د لونګو امېلونه خرڅېدل په کښې

هغه مازدیګر چې په کښې سترګې جنګېدلې به

هغه چې جوړې جوړې یاران به ګرزېدل په کښې

هغه چې ډولونو ته به ژني په کښې اودرېدل

بیا به په اتڼ کښې سره واوړېدل را واوړېدل

هغه چې په یو انداز لاسونه به یې واړول

بیا به یې راواړول او لاندې به یې پړک وهل

د بنو مازدیګر د مقبولیت دائره د عمر څۀ خاص برخې یا د طبیعت د څۀ خاص رنګ پورې محدوده نۀ ده ولې نوے کهول خو ترېنه ځاربېږي ـ لکه څۀ رنګ چې د ایم اے انګلش یو طالب علم خالد نیاز چې کالج په میګزین " کرم " کښې د بنو مازدیګر ترعنوان لاندې نظم کښې اظهار کوي :

ستا د چوک بازار منظر لندن د ښار نه ښکلے دے

ستا دغه منظر خو ما په سر سترګو منلے دے

ستا د دې ښکلا څنې شفق هم شرمېدلے دے

غاړې ته دې هار ، پګړۍ ته ګل دې راټومبلے دے

کله به مې هېر شې او د بنو مازدیګره تۀ

شین وي که وریځ وي جوړ په تا کښې به اختر وي تل

ښکلې دې فضا وي او موسم دې معطر وي تل

ګرځي چې په تا کښې دا ټولې ټولې ځوانان ښکلي

ښکاري داسې وسپړي غوټۍ لکه ګلان ښکلي

هره ورځ دې ښکلے ښکلے رنګ راته ښودلے دے

ارشاد منداں څوک چې د بنو په شاعرۍ کښې د نوي کهول په نمائنده شاعرانو کښې دے ـ د بنو مازدیګر سره د خپلې مینې اظهار په دې ډول کوي :

وفا او په ښائست کښې له هرچا یې معتبره

په هېڅۀ به دې ور نۀ کړم د بنو مازدیګره !

د ګران سکندر خان سکندر چې کله د نوکرۍ په لړ کښې بنوګل نه کالا باغ ته تبادله کېږي نو زړۀ داسې د اوښکو په ځاي وینې تویوي لکه اشرف خان هجري د بېجاپور جېل ته وړي :

مسافري مې په نصیب شوه نابره

آخ د بنو مازدیګره !

ژړا راشي چې رایاد شې

سختۍ زما په زړۀ تېرېږي

تۀ خو په بنو کښې اوسېږې بختوره

په چوک بازار کښې شېخ سعدي هم

تسپې په ګوتو کړې په جار وائي سندره

ځان سره کلي ته مې بیایه

ما په پردېس کښې ګوشې پرې نړدې اختره !

دعا کوه دعا کومه

چې خداي مو بیا سره یو ځاي کړي سکندره !

هسې خو د بنومازدیګر په رنګینیو باندې بلها ډېره شاعري شوې ده او کومه شاعري چې دلته د نمونې په توګه وړاندې شوه هغه په اوږو کښې د مالګې برابره هم نۀ ده ـ خو په اصل کښې زمونږ مقصد هم په ذکر شوي موضوع باندې شاعري راغونډول نۀ ده ـ البته د یو داسې شاعر چې د بنوپه شاعرۍ کښې ځانګړے مقام لري ، ښاغلے طاهر خان طائر د هغه سندرې هغه بند په کوم کښې چې هغه د سپرلي په راتلو خپل محبوب ته داسې مخاطب دے :



**د کلي په هر برید په هره پوله زېړګلے شو**
**رادرومه پسرلے شو جانانه !**
**ژېي مستي کوي ګډېږي په چوک کښې**
**هرخوا ډولونه دي غږېږي په چوک کښې**
**ښکلي هم ډلې ډلې کېږي په چوک کښې**
**پرخې رنګونه وي وربېږي په چوک کښې**
**زړونه بې وسه مئینېږي په چوک کښې**
**راشه مئین شه بیا رنګین مازدیګرے شو**

په اخر کښې یوه خبره کول ضروري ګڼم ، هغه دا چې د کائېناتو په ارتقائي عمل کښې د بنومازدیګر هم شامل دے ـ د وخت تېرېدو سره سره په هرځۀ کښې وسعت راځي ـ دغه وجه ده چې د بنو مازدیګر هم اوس یوازې چوک بازار پورې محدود نۀ دے پاتے شوے ـ بلکې یو طرف ته خو دا مازدیګرے په چوک بازار کښې په مکمل جوش او خروش سره په نظر راځي نو بل طرف ته د منډان پارک په کهلاو فضا کښې د مینې رنګونه وېشي۔ که یو طرف ته په قاضي فضل قادر شهید پارک کښې ځواني په ګډا او د اتڼونو په دائرو کښې په نظر راځي۔ نو بل طرف ته دلاسه پارک ، باغ سکون ، باغ یاران او د بنو ټاؤن شپ په بېلابېلو هوټلونو او پارکونو کښې ځوانان زړونه په لاسونو کښې ګرزوي ـ د بنو مازدیګر د ځوانانو په انفرادي ژوند کښې بې پناه ښکلا او رنګیني راولي ـ

الله تعالے دې وکړي چې د انفرادي خوشحالیو او رنګینیو سره سره د اجتماعي ژوند او خوشحالۍ د پاره په ټولو ځوانانو کښې شعور بېدار شي ـ

# د محکمه ثقافت تاریخي ادبي هلې ځلې

اکبرهوتي



هسې خو محکمه ثقافت په ۲۰۱۷ کښې ډیرې تاریخي او د ګټې وړ ادبي او کلتوري هلې ځلې وکړې چې پکښې نندارتونونه او د کلتوري صنعت د ودې له پاره د هنرمندوشریکې مرکې او جرګې هم وکړې، هم دغه رنګه د ثقافتي پالیسۍ له پاره هم کار او زیار وشۀ، خو په دې ټولو هلوځلو کښې د ادب د پرمختګ له پاره هم ډیر تاریخي ګامونه پورته شول، د ”یون“ اي مجلې سره سره د انټرنېټ د لارې د کتابتون تابیا هم وشوه چې تر ننه پورې ۲۰۰ کتابونه د لوستلو او ډاون لوډ کولو له پاره تیار پراتۀ دي او زده کونکي ترې علمي تنده سړولې شي۔ په دې کتابونو کښې تحقیق، تنقید، تخلیق او تاریخي کتابونه شته چې د ادب او تحقیق د طالبعمانو له پاره د فائدې سبب دي، د اي لائبرېرۍ نه علاوه د یوې غټې لائبریرۍ له پاره هم په عملي توګه کار روان شوے دے او ډیره زي به د محکمه ثقافت یوه لویه لائبرېري جوړه شي۔ د لائبرېرۍ سره سره د پېښور لیکونکي ټولګے، یعني ”پشاور رائټرز کلب“ په نوم یو کلب هم جوړ شۀ چې د انټرنېټ د لارې پکښې لیکونکي خپل رجسټرېشن کولې شي۔ د دې کلب په ذریعه به نۀ یواځې چې لیکوال په یو ډګر راغونډ شي چې نوي کهول ته نۀ یواځې خپل فن او هنر ورورسوي بلکې خپل عقل فکر او دانش سره هم شریک کړي، د دې سره سره به د دې کلب په ذریعه د لیکوالو ته روزګار هم په لاس راځي، ځکه چې محکمه ثقافت به دغه موقعې پېدا کوي او د خپلو لیکونکیو هنرونه به پکاروي۔

د ۲۰۱۷ تابیا د محکمه ثقافت د تاریخ د ړومبۍ اي مجلې ”یون“ نه وشوه، یون د صوبې ادبي او کلتوري مجله ده چې د ملک په تاریخ کښې په ړومبي ځل ئې د صوبې لسو ني زیاتو ژبیو له ځائے ورکړو، دا مهال د ”یون“ څلور ګڼې چاپ دي۔ یون درې میاشتنۍ د انټرنېټ د لارې مجله ده۔ په دې مجله کښې د کلتوري صنعت او فولکلور د ودې او پرمختګ دپاره لیکونه خوریږي، دې سره سره نوې لیکونکیو ته د خپلو تخلیقي لیکونو د خورولو موقع هم په لاس ورځي۔ د دې مجلې د مخکتنې دستوره هم وشوه چې پکښې د صوبې لویو شاعرانو ادیبانو برخه اخستې وه او د محکمه ثافت د کوشش ئې د ستائینې وړ وګرځوو۔

د ژبیو او ادبیاتو څانګې د د پښتو افسانې سل کلن جشن هم ونمانځو، او په دې غرض په نشترهال پېښور کښې یوه لویه دستوره وشوه، ښاغلیو نورالامین یوسفزي په پښتو افسانه کښې د تنقید حېثیت په حواله مقاله وړامدې مکړه، بدرالحکیم حکیم زئي د د ازادۍ نه مخکښې او وروستو په پښتو افسانه خپله مقاله واوروله، ښاغلي سلیمان کامل د ۲۱مې صدۍ په افسانه خپل تفصیلي لیک وړاندې کړو، پروفېسر ډاکټر اباسین یوسفزي،محترمه حسینه ګل، زېتون بانو او ډاکټر سلمي شاهین هم د پښتو افسانې په حواله خبرې وکړې، د محکمه ثقافت ډپټي ډائریکټر شهباز خان هم د دې ورځې په مناسبت او د محکمه ثقافت په شوو کارونو رڼا واچوله، د ژبیو او ادبیاتو څانګې ماهر اکبرهوتي او د پېښور پوهنتون د پښتو څانګې پي ایچ ډي سکالر نائله شمال ساپۍ د نظامت چارې ترسره کړې۔ په دې دستوره کښې د موسیقۍ یو خوندور ماښام هم وشۀ چې په کښې ستاره یونس، دل راج، کمال عزیز او رحمت سحر د خل فن مظاهره وکړه۔

د فولکلوري ادب د پرمختګ او ودې له پاره د یو سیمینار تابیا هم وشوه دا هم د محکمه ثقافت په تاریخ کښې په اول ځل راجوړه شوه، په دې سیمینار کښې د عبدالولي خان پوهنتون زده کونکیو په خصوصي توګه ګډون وکړو، د پښتو ژبې یاد شاعر ادیب او ښۀ کالم نګار سعدالله جان برق دیومالائي ادب په حواله خبرې وکړې، پروفېسر داور خان داود د پښتو اولسي ادب باندې تفصیلي مقاله وړاندې کړه۔ پروفیسر ډاکټر خادم حسېن د پښتني تهذیب باندې خپل لیک واورولو، ډاکټر سلمي شاهین په پښتو اولسي ادب کښې د ټپې په حواله خبرې وکړې، ډاکټر محمد سهېل خان په پښتونولۍ یو جامع لیک وړاندې کړو او محمد زمان ساغر د پښتونخوا په نورو ژبیو کښې په فولکلور رڼا واچوله۔ د فوکلوري سیمینار اخر کښې مشهورو سندرغاړو عرفان کمال، صاحب زاده، احمد ګل استاذ او مینه ګل په ټپو او چاربېتو د سیمینار ښکلا یو په دوه زیاته کړه۔ محکمه ثقافت د ژبیو او ادبیاتو څانګې په کال ۲۰۱۷ کښې ډیرې مهمې ګټې وکړې او د پښتونخوا شاعران او ادیبان ئې په یو چوکۍ راجمع کړل۔ په نشترهال کښې د محکمې په مرسته د خوېندو ادبي لښکر د سیوري لاندې ډاکټر سلمي شاهین او د مانېرۍ صوابۍ د مشهور شاعر تسکین مانېروال په درناوي کښې دستورې وکړې، هم دغه رنګه د زلمي شاعر امجد حسان



خلجي د کتاب ”د لاس نخښه“ د مخکتنې دستوره هم وکړه چې پکښې د تعلیم صوباني وزیر محمد عاطف خان هم ګډون کړې وو۔






# عبدالحمید مومند او پښتونولي

سجاد ژوندون



د نړۍ په کچ چې څومره هم قامونه اباد دي یا وو ـ هر قام خپل دود دستور مذهب تهذیب او تمدن لري۔ وئیلي شي انسان چې کله د غارونو نه راووت نو دهٔ ته دېټولو اول ضرورت د خوراک څښاک او د زمکې په مخ د وسېدو د پاره لویه ستونزه مخې ته وه ـ یو خوا ورته په خوراک څښاک کښې د ښکار مسله راپېښه وه او بل خوا ورته د مختلفو ځناورو او اسماني افتونو له خوا هم لویه کشاله مخې ته پرته وه ـ دا هاغه دور وهٔ چې انسان په ګډه دا سوچ کړے دے چې مونږ له به په خپلو کښې شریک وسېدل پکار وي ـ

هم د دغه وسېدو تر څنګه چې انساني شعور کوم سوچ رابېدار کړے دے هغه له دې د پاره چې دا خلق د څهٔ اصول او قائدو لاندې ژوند وکړي ـ دا اصول د کلتور په شکل کښې د تهذیب په شکل کښې او د تمدن په شکل کښې مخې ته راغلل چې د معاشرې د پاره د یو فرد په دې کښې دننه ژوند کول فرض وو ـ او هم دا هر څهٔ د معاشرې په کنټرول کښې د ساتلو د پاره د قانون په طرز چلېدل ـ په دې حقله بدرالحکیم حکیم زے لیکي !

”ثقافت یا کلچرکسی قوم کی مخصوص طرز زندگی کا نام ہے ـ زبان ،لباس، رسم ورواج، مزہبی عقاید ، روایات، تجربات، اخلاقیات،عادات، نفسیات،ادبیات،مصوری، رقص ، موسیقی تصورات ،رهن سهن کے طور طریقے، علوم و فنون، رسل و رسایل ، اور اقتصادی ادارے ثقافت کے اجزا ھیں“1

”ثقافت یا کلتور د یو قام د ژوند د تېرولو د یو خاص طرز نوم دے ـ ژبه، اغوستن، رسم او رواج، مذهبي عقیدې، رویات، تجربات ، اخلاقیات، عادتونه ، نفسیات، ادب، انځور ګري، نڅا، موسیقي، تصورات، استوګنې طریقې ، علم او فن ، د رسنۍ او وتیزې ادارې د اڅوب توکي دي“ ـ

وروستو دغه قائدې او ضابطې د معاشرې د پاره لکه د جبلت په شان وګرځېدې ـ دغه قائدې او ضابطې د هر قام جدا جدا دي ـ چې پښتون قام پکښې پښتو د ځان د پاره په وجود کښې راوستې ده ـ دغه وجه ده چې پښتو نهٔ صرف د پښتنو د ژبې نوم دے بلکې دا په خپل ځان کښې د یو ائین په شان د کړهٔوړهٔ قائدې او ضابطې لري چې پښتونولي ورته وئیل کېږي ـ

هم دغه پښتون ولي ده چې پښتانهٔ ئې د ژوند د تېرولو د پاره د پنځو زره کلونو راهسې غوره طریقه بولي ـ پښتون ولي تهذیب هم دے او ثقافت هم دے ـ دود هم دے او دستور هم دے ـ بلکې که په دې کښې دننه قائدې او ضابطې مونږه وڅېړو نو دې نتیجې ته هم رسو چې بائد پښتون ولي یو وخت مذهب هم پاتے شوے وي ـ مونږ ته داسې تاریخي هڅ دلیل په لاس نه راځي چې مونږه پرې په کلکه دا ووایو چې د اسلام نه مخکښې د پښتون دین شکل څهٔ و څو ولې بیا هم دا روایت څهٔ نه څهٔ داسې دلیل ورکوي چې کله پښتنو د اسلام مقدسه دین اختیار وو نو د اسلام او د پښتو د مشابهت په وجه شائد دې خلقو اسلام ته په ګډه توجو کړې ده ـ

د پښتون ولۍ څو داسې اقدار دي چې دا د تهذیب سره هم نزدې کوي ـ د تهذیت په وجود مغربي لیکوال ولډیورنټ څهٔ داسې وائي ـ

Civilization is that sociological order which nourish cultural creation.“ Four elements combined and give shape to culture economics access, political organization, ethical norms and pursuit of knowledge and .art”2

”تهذیب هغه معاشرتي ترتیب دے چې ثقافتي اقدارو ته وده ورکوي ـ څلور توکي دي چې هغه تهذیب ته شکل ورکوي د ګټې وټې ذریعه، سیاسي ډله بازي، اخلاقي روایات، او د علم او فن غوښتنې۔

که چرې دغه توکو کښې اخلاقي روایات مونږه په نظر کښې وساتو نو بائد دا خبره په ډاګه کېږي چې پښتون ولي د اخلاقي اقدارو غوره نمونه ده ـ پت ،ښېګړه ، ننګ ، غېرت، شرم ، وفا، حیا، لوظ ، مېلمه دوستي ، تیره ، بدرګه ، خوداري ، بدل او داسې ډېر توکي دي چې د پښتون ولۍ ستنې دي او د دې ستنو د سیوري لاندې پښتنو د زرګونو کالو راسې ژوند وکړو ـ غواړم چې دلته د خپل مقصد په لور مخکښې شو ـ او د شاعر عبدالحمید مومند په شاعرۍ کښې د پښتون ولۍ اقدار په نخښه کړو ـ

هر انسان چې پیدا دے نو د دهٔ په ژوند د خپل چاپېر چل اثرات ضرور پراتهٔ وي دے د دغې چاپېرچل نه رنګ هم اخلي او اثر هم چې د نېشنل ازم بنیاد ګرځي ـ قومیت او مقامیت د هر انسان په لاشعور کښې اخلې پراتهٔ وي په یو نه یو موقع د دهٔ نه یا خو په کړو وړو کښې دغه قومیت او مقامیت په غېر شعوري توګه ښکاره کېږي یا په خبرو اترو کښې ـ خو ولے د یو عام وګړي په نسبت د فن سره تعلق لرونکو خلقو باندې د قامیت او مقامیت اثر زیات وي ـ پښتو زمونږه قامیت په مونږه کښې بېدار ساتي او هر پښتون په خپل پښتونیت باندې فخر کوي ـ زمونږه هر شاعر د پېر روښان نه واخلي تر خوشحال او حمزه شنواري پورې د پښتونولۍ

غوره نمونې دي ـ په دغه شاعرانو کښې یو عبدالحمید مومند هم دے چې په جار وائي ـ

**”ځان به مړ د عشق په څېل کړمه ناصحه**

**وابه نهٔ وړم زهٔ حمید هسې پښتون یم“3**



که چرې د پورتني شعر تنقيدي جايزه مونږه اخلو نو دې کښې نۀ يواځې حميد بابا خپل ځان پښتون ياد کړے بلکې د پښتون مزاج هغه انا پرستئ ته هم اشاره کوي کومه چې ټولې نړۍ منلې ده چې پښتون ضدي هم دے او چې په يو کار ښه يا نه وکړي نو په مرګ ترې جاروځي بيا ـ استاذ اقبال نسيم خټک صېب د حميد بابا د پښتون ولۍ په حقله وائي!

"حميد بابا که حسن ته د ټېنګې نه دے يا د عشق اورونو سوے دے ـ خو فطرتا پښتون دے او پښتون ولۍ د رسم او رواج پابند دے ـ د پښتون ولۍ جذبه ئې رګونو کښې په چپو ده ـ نه د مال پروا کوي او نه د ځان نه د سر پروا کوي او نه د تن ، حميد بابا خپل ځان په وينو کښې لت پت ليدے شي ـ خو د بې پتۍ داغ په ځان نه لګوي "4

پت د پښتون ولۍ ډېر اهم توکے دے خوشحال خټک په قول د "سړي هر څۀ د هغۀ پت دے نه مال او نۀ سر دے " او حميد بابا هم په پت کښې خپل ځان مړ ليدل غواړي خو بې پته کېدل او د تخت د پاځه ناسته نۀ غواړي لکه دا شعرونه ئې !

**"قول او بول په ژوندون نۀ شي نورولے**

**څکه ځان په قول وژني پښتانۀ"5**

**"پروت په وينو کښې لت پت ښۀ يم په پت کښې**

**نۀ د سرو زرو په تخت باندې بې پته"6**

**"نشته ما غوندې بې پت څوک په يارۍ کښې**

**چې هم د نۀ شوم د يار په دا خوارۍ کښې "7**

د شرم او حيا په حقله که چرې مونږه د پښتنو نفسياتي جائزه واخلو نو دا قام د زرګونو کالو راهسې په خپل شرم او حيا مړ دے ـ بلکې په دې حقله خو د اسلام نه هم دوه ګوتې سېوا حيا پرست قام دے ـ لکه په اسلام کښې د پردې حکم د زنانو د پاره دغه دے چې د دوي لاس او مخ دې ښکاره وي باقي وجود پټ ساتي ـ خو په پښتون ولۍ کښې نن هم زنانه هغه بورکه اچوي چې د وجود يو اندام ئې هم پکښې نه شي ليدل کېدې ـ دا زنانو پرده د سړو د پاره د حيا سبب دے ، حيا که د سړو ده او که ښځو خو پښتونولۍ کښې چې څوک حيا ونلري نو بې حيا ورته د کنځلو په طور وئيل کېږي ـ حميد بابا هم پښتون دے په حيا کښې وړے تړے ځان ښۀ ګڼي خو بې حيا ورته نه ده منظوره لکه وائي !

**"په حيا کښې سړے وړے تړے ښه دے**

**نه په شهد او شکر موړ په بد رسوا"8**

**" نۀ مې شرم شته نه درم په حساب کښې**

**چې د يار سره لاړ نۀ شم په رکاب کښې"9**

د قوميت سره مقاميت تړلے لازم او ملزوم توکے دے ـ لکه هر چاته خپل وطن کشمير دے که د افرېقې يو غېر تهذيب يافته انسان په خپل قام پرستۍ وياړ کوي نو ورسره ورسره به خپل ځنګل هم ستائي ـ حميد بابا هم د پښتنو په سيمه پېدا دے او لوے دے په يو داسې ښار کښې ژوندے و چرته چې ګور او اوور برابر وو د دغې ښار سره ـ حميد بابا هم په خپل ښار پېښور کښې دغه هر څۀ ليدلي دي او له ډېره درده ئې دا خبره کړې ده !

**"غريب خلق خلق مردګان پکښې ورتېږي**

**ظالمان نکير مونکر پېښور ګور شو"10**

هم داسې ډېر شعرونه دي چې حميد بابا پکښي مونږه د يو کلک پښتون په حېث ليدے شو ـ لکه مېلمه پالل د پښتنو هغه دستور دے چې بل چرته هم نشته دے ـ ميلمه ته په روڼ تندي هر کلے وئيل او د هغه مېلمستيا کول د پښتنو د پاره د فخر علامت دے وائي چې که حجرې ته دې دښمن هم ميلمه شي راشي نو خيال به ئې ساتې ـ حميد بابا وائي چې مېلمه پ خوږه ژبه يعنې په روڼ تندې سوکړک هم کېږدې لکه چې چورې دې ورته کېښوه لکه وائي !

**"چې ګدي ئې په خوږه ژبه و مېلمه ته**

**سپور سوکړک دحميد نيو شي په چوري"11**

په اخره کښې خپلې دا خبرې د حميد بابا په دې شعر ختموم چرته چې حميد بابا لکه د يو غېرتي پښتون وائي چې پښتانۀ په عشق کښې سر ورکوي او خداے ته سوال کوي کاش که زۀ هغه پښتون شومه ـ کله دا شعر!

**"چې د عشق په جهل ځان وژني ناصحه**

**کاش که زه عبدالحميد هغه پښتون شم"12**





Go to Content Page

# پشتو موسیقی ۔۔کل کی تلاش

لائق زادہ لائق



فنی اعتبار سے خیبرپختونخوا اور بالخصوص پشاور کو ابتداء ہی سے بہت زیادہ اہمیت حاصل رہی ہے ۔ آزادی سے قبل بھی یہی خطہ پورے ایشیاء کی توجہ کا مرکز رہا۔1920اور 1922 کے عرصے میں جب یہاں عدم تعاون تحریک اور پھر خدائی خدمت گار تحریک چلی تو ''فن'' ہی کے ذریعے فرنگی استعمار کے مظالم کو اُجاگر کیا گیا۔تھیٹر کا تصور عام تھاہرجگہ اسٹیج ڈرامے کرائے جاتے تھے اور انہی ڈراموں کے کردار اپنے ماحول کی بھر پور نمائندگی کرتے ۔ خدائی خدمت گار تحریک کے اصل محرک خان عبدالغفار خان تھے اس لیے اُن کے ڈراموں اور تھیٹرز پر سیاسی رنگ غالب تھا لیکن دوسری طرف ان ڈراموں کے ناظرین میں لاشعوری طور پر اداکاری کے فن کو فروغ مل رہاتھا۔

یہ وہ زمانہ تھا جب پشاور کے قصہ خوانی اور خیبر بازار میں ہندو ، سکھ اورمسلمان سبھی ایک ساتھ رہتے تھے ۔ اگر ایک طرف مقامی زبان ہندکو بولنے والوں میں دلیپ کمار جیسے قدآور اور دیگر اعلی پائے کے فنکاروں نے جنم لیا تو دوسری طرف سکھ خاندانوں میں حال ہی میں انتقال کر جانے والے '' ونودکھنہ'' جیسے عالمی شہرت یافتہ اداکار بھی پشاور ہی میں پیدا ہوئے ۔ میں سمجھتا ہوں کہ فن کے اس فروغ میں'' خدائی خدمتگار تحریک'' کے شعوری یا لاشعوری اثر کو بالکل نظر انداز نہیں کیا جاسکتا۔

فن اداکاری کے ساتھ ساتھ پشتو موسیقی کی تاریخ بھی اتنی ہی پرانی ہے جتنی اس قوم کے وجود کی تاریخ پرانی ہے اس لیے کہ ہر قوم کے وجود کے ساتھ ساتھ اس کی لوک موسیقی مختلف شکلوں میں خود بخود جنم لیتی ہے چاہے وہ ایک ممتاکی لوری ہو یا پھر آپس میں مل بیٹھ کر اپنے جذبات کو الفاظ دینے کا انداز ہو ۔ پشتو زبان اور اِس قوم کی تاریخ پر ملکی محققین کے علاوہ اُن پادریوں نے بھی کام کیا جنھوں نے برطانوی حکومت کی طرف سے یہاں اپنی ذمہ داریاں انجام دیں۔ ساتھ ساتھ برطانوی فوج کے کئی افراد نے بھی خیبر پختونخوا میں اپنے عرصہ ملازمت کے دوران اس حوالے سے تحقیقی عمل جاری رکھا جن میں '' میجرراورٹی'' کانام سرفہرست ہے لیکن میرے مطابق اس تحقیق میں زیادہ تر مفروضات شامل ہیں اس کی وجہ یہ ہے کہ ہزاروں سال سے پختون قوم قبائل میں منقسم اور آپس میں برسرپیکار رہی ہے جس کی وجہ سے ان کو اپنی باقاعدہ تاریخ رقم کرنے کا موقع نہیں ملاہے۔یہاں تک چندسوسال قبل کے عظیم شعراء رحمن بابا اور علی خان بابا کے بارے میں بھی مفروضات سے کام لیا جاتاہے ۔ اُن میں خوشحال خان خٹک کی زندگی کے بارے میں حقائق کا کافی حد تک اس لیے پتہ چلاہے کہ اُنھوں نے خود اپنی پوری جوانی شہنشاہ اورنگزیب کی خدمت میں گذاری۔ اُن کے والد شہباز خان ، دا دا یحییٰ خان اور پردادا '' اکوڑ خان'' شہنشاہ اکبر کے زمانے سے مغل شہنشاہوں کی ایما پر دیگر افغان قبائل سے لڑتے رہے ۔

ہمیں پشتو موسیقی کے باقاعدہ آہنگ بیسوی صدی کے اوائل سے ملتے ہیں جب ہندوستان کی کمرشل کمپنیوں ''ہنگافون'' کولمبیا '' ہزماسٹر وائس'' ریگل'' اور دیگر نے اپنے کاروباری مقا صد کے لیے دہلی میں پشتو نغموں کی ریکارڈنگ شروع کی ۔ میر ے مطابق ان کمپنیوں کے مالکان جو اکثر سکھ اور ہندو تھے کا قطعاً پشتو ادب پر کوئی احسان کرنا مقصود نہیں تھا اُن کوصرف اپنے کاروبار کو وسعت دینی تھی اور پیسے کمانے کے لیے ایک ایسی قوم میں داخل ہونا تھا جن کو اپنی زبان اور اپنے اسلاف سے جنون کی حد تک عشق تھا۔ چنانچہ جب ان نغموں کی ریکارڈنگ شروع ہوگئی تو اُن کے ڈسک ہاتھوں ہاتھ فروخت ہوتے گئے ۔ چند آنے میں ایک ایک ڈسک جب ہزارو ں کی تعداد میں بک جاتے تھے تو ہندوساہوکاروں کی تجوریاں چند ہفتوں میں بھر جاتی تھیں۔

تحقیق کے مطابق پشتو کا پہلا نغمہ بیسوی صدی کے اوائل میں ایک فارسی زبان گاےئکہ مس گوہر جان کلکتہ والی نے گایا۔ اس لیے کہ پشتو سے قبل فارسی موسیقی اپنے عروج پر بھی تھی بلکہ عربی موسیقی پورے خطے میں عام تھی ۔ پشتو نغمے جو ابھی تک نایاب ہیں کے بارے میں لکھا جاتا ہے کہ اس پر مکمل طورپر فارسی رنگ غالب تھاجس کی اصل وجہ یہ ہے کہ فارسی اور پشتو زبانیں صدیوں سے بہت قریب رہی ہیں یہاں تک کہ افغانستان میں دری زبان صدیوں سے پشتو بولنے والوں کے لیے دوسری زبان رہی ہے ۔ افغانستان میں دونوں زبانوں کو سرکاری حثیت ابھی تک حاصل ہے ۔ یہ ایک تفصیلی بحث ہے جس پر آئندہ چند سطور لکھنے کی کوشش کی جائے گی۔

جب اس خطے کے'' خود سر'' پٹھانوں نے اپنی زبان میں پہلی بار نغمہ سُنا تو اُس کو نہایت پسند کیا۔ ہندو ساھوکاروں کو اس سے اندازہ ہوا کہ پشتو موسیقی کو فروغ دینا اُن کے حجروں کی ضرورت ہے ۔ چنانچہ دہلی میں پشتو موسیقی کی ریکارڈنگ کا آغاز 1907 کے عرصے میں ہوا اُس وقت کے نغمے اب نایاب ہو چکے ہیں تاہم 1914تک کی ریکارڈنگ جو پشت درپشت محفوظ ہوگئی تھی آج تک محفوظ رہی ہے ۔اس طرح تمام تحقیق کے مطابق پشتو کا پہلا نغمہ جس کی ریکارڈنگ ہاتھ آئی ہے اُس کے گلوکار پشاور کے قریب گاؤں سوڑیزی کے رہنے والے اکرم خان تھے۔

اُس زمانے میں خیبر پختونخوا کی روایتی زندگی میں حجرے کے محافل میں ستار اور رباب کو خاصی اہمیت حاصل تھی ۔ گھڑے کی تاپ اور ستارکے تڑنگ کیساتھ پختون جوانوں کے لیے گانا ایک معمول کی بات تھی ۔ لیکن معاشرے پر مجموعی طورپر مذہبی رنگ غالب تھا ۔اور گانے والے کو عزت سے نہیں دیکھا جاتا تھا آہستہ آہستہ جب کمرشل ڈسک عام ہوتے گئے تو برطانوی کمپنیوں نے گراموفون بنانے میں بھی اضافہ کیا۔



یہ گراموفون خواص کے حجروں میں ہوا کرتے تھے ۔ جس کے ذریعے فنکاروں کی آوازوں میں پشتو نغمے سننا دیہی علاقوں کے رہنے والوں کے لیے معجزے سے کم نہ تھا وہ ایک دوسرے سے یہی سوال کرتے کہ کس طرح ایک گول مول ڈسک میں موسیقی اور آواز کو ایک ساتھ قید کر دیا جاتاہے ۔

وقت کے ساتھ موسیقی کے گھرانوں کے علاوہ بہت سارے شوقیہ گلوکاروں نے بھی دہلی کا رخ کیا اور وہاں لوک نغموں کے علاوہ رحمن بابا کی رباعیات ریکارڈ کرائے ۔ ان فنکاروں میں جنکو نام ملا اُن میں مرغز صوابی کے رہنے والے اُستاد صحبت خان، ماشو خیل پشاور کے رہنے والے انظرگل ، اُستاد مظفرخان جن کا تعلق پاوکہ پشاور سے تھا۔ چارسدہ غزگی گاؤں کے اُستاد میر احمد خان ، بڈھ بیر پشاور ، اُستاد زر خان ، دیہہ بہادر کے اُستاد مبین خان، چارسدہ عمرزئی کے اُستاد خان زادہ ، بازید خیل پشاور کے اُستاد سبز علی خان ، اکبرپورہ پشاور کے اُستاد عبداللہ جان، گاؤں ٹوپی صوابی کی بیگم چشتی چمن جان، پولیل گنج مردان کی دو بہنیں میڈم مہرالنساء اور میڈم صبر النساء، گاؤں متنی پشاور کے اُستاد متولی اسی گاؤں کے اُستاد انسان شاہ اور ممیش خیل بنوں کی میڈم حبیب جان جو پشتو کی پہلی فلم لیلیٰ مجنوں کی ہیروین بھی تھیں یہ فلم انڈیا میں 1940 میں ریلز ہوئی جس کی کہانی اور مکالمے امیر حمزہ خان شنواری نے لکھے جبکہ رفیق غزنوی اس فلم کے مرکزی کردار ، ڈائریکٹر اور پروڈیوسر تھے۔ ماضی کے ان پشتو گلوکاروں میں پار ہوتی مردان کی میڈم رحمت دلبر جان ۔میڈم صوبہ جان ۔ میڈم خانم جان ۔ شبقد ر چارسدہ سے تعلق رکھنے والے ارباب دلبر خان، نوشہرہ کے دو بھائی اُستاد عبدالمالک ۔ اُستاد عبدالغنی ۔ اُستاد کالا خان کے علاوہ پشاور کے اُستاد اکبر پشاوری ۔ اُستاد آباد خان ۔ اُستاد گل شیر۔ اُستاد شیر دل خان ، اُستاد احمد خان اور کئی دیگر شامل ہیں۔ان فنکاروں نے خیبر پختونخوا کے فن کو پورے دہلی میں متعارف کروایا۔

جب فن موسیقی کو مقبولیت ملتی رہی چند شعرا نے بھی لوک گیت لکھنے میں نام کمایاجن میں فرید جان استاد، فدامطہر دین محمد اور گلستان بابا شامل ہیں ان کے علاوہ احمد دین طالب کو بھی پشتو رباعیات لکھنے میں خاصا نام ملاِ۔

پشتو موسیقی کے اس ابتدائی دور کا اپنا ایک منفرد انداز ہے اگر ایک طرف اردو موسیقی کی باقاعدہ کمپوزیشن ہوتی تھی تو دوسری طرف بیسوی صدی کے ابتدائی عشروں کے دوران پشتو نغموں میں کسی قسم کی کمپوزیشن کا وجود نہیں۔ جس کے ہاتھ میں ہارمونیم آیا وہی موسیقار بنااور فنکاروں نے جو کچھ جس طرح اور جیسے بھی گایا سازندوں نے وہی طرز سازوں میں بھرنے کی کوشش کی ان ساز وں میں ”سارندے“ کا زیادہ استعمال کیا گیا ہے۔

ایک اور اہم بات یہ ہے کہ 1920 سے لیکر 1940 تک جتنے بھی نغمے ریکارڈ ہوئے اُن میں ناصحانہ رنگ غالب ہے ۔ ایک بات جو میر ے مطابق انتہائی توجہ طلب ہے وہ یہ کہ خوشحال خان خٹک اور رحمن بابا تقریباً ہم عصر شعراء تھے

لیکن اس تمام عرصے میں کسی بھی فنکار نے خوشحال خان کی شاعری نہیں گائی جس کی وجہ خوشحال خان خٹک کی مشکل پسندی یا پھر عام معاشرے میں اُن کی شناسائی کا فقدان ہو سکتاہے۔ رحمن بابا کو ہرکسی نے گایا ، بابا بلے شاہ اور دیگر صوفی شعراء کی طرح پشتون معاشرہ رحمن بابا کی شاعری کے ساتھ ایک روحانی عقیدت رکھتا ہے اور اُن کے اشعار کوضرب المثل کے طور پر بھی پیش کیا جاتاہے ۔

آج اگر چہ وقت کی ترقی کے ساتھ پشتو موسیقی جدید ترین سازوں سے ہم آہنگ ہوگئی ہے لیکن سامعین کی ایک بڑی تعداد کل کے نغمے سُن سُن کر ان میں اپنا وہ ماضی تلاش کرتے ہیں جو وہ خود کھوچکے ہیں اور مجھے اِس پر فخر ہے کہ میں نے سال 2000 میں جب ریڈیو پاکستان کے پروڈیوسر کی حیثیت سے اس اثاثے کو اکٹھا کرنے کے لیے اپنے اسٹیشن ڈائریکٹر جناب نثار محمدخان کی ہدایات کی روشنی میں پروگرام“ تیر ہیر آوازونہ ”شروع کیا تو اسی پروگرام کے ذریعے کئی افراد نے ریڈیوپاکستان پشاور کو یہ بکھرتے نغمے پُہنچا دےئے ۔سال2000 سے قبل ریڈیو پاکستان پشاور کی لائبریری میں موجود پرانے 12 کے قریب نغموں کی تعداد اب ساڑے تین ہزار تک پہنچ چکی ہے ۔ بیسوی صدی کے اوائل کے فنکاروں کے رشتہ داروں سے رابطہ کر کے جب میں پہلی کتاب ”فنکار نہ مری“ جس کا اردو ترجمہ ”فن سے فنکار تک ”کے عنوان سے2013 میں منظرعام پر آیاتوپورے ملک کے قارئین کو پشتو کے ان گمنام اساتذہ کے بارے میں آگہی ہوئی ۔

ہرقوم کو اپنے ماضی اور اپنی روایات سے پیار ہوتا ہے لیکن ہمارے پاکستانی معاشرے کا المیہ یہ ہے کہ ہم گفتار کے توغازی ہیں مگر کاش ہم کردار کے بھی غازی ہوتے تو اس معاشرے میں ماضی کی طرح آج بھی امن وآشتی کا دور دورہ ہوتا ہم عملی طورپر ماضی کا بھلا چکے ہیں۔ اس تضاد نے ہمارے قومی وجود کو پارہ پارہ کر دیا ہے ۔ آج ہم ایک قوم نہیں بلکہ ایک ہجوم ہیں کاش قائداعظم نے جس پاکستانی قومیت کا خواب دیکھاتھا اُس خواب کو تعبیر مل سکے تب کہیں جاکر ہم ایک قوم بن کر اپنے ماضی کو حال کے ساتھ استوارکر نے کے لیے عملی اقدامات کر سکیں گے یہی وقت کا تقاضا بھی ہے اور ضرورت بھی۔





# جیگوچھوٹی کھانڑی ۔۔۔۔۔ وڈا سبق

عمران یوسف زئی



کسی جنگل اچ بوت سارے جانور ریندے ائے۔ اناں دے وچ شترمرغ بھی ائے۔

پیارے بچے او!توانو پتہ وے کہ شترمرغ زمین دے اوتے پائے جانڑے والے تمام پرندے آں چو سب سی وڈا تے وزنی پرندہ وے۔ ہک وڈے شترمرغ دا قد 8 سی 9 فٹ تے وزن 140 سی 160 کلوگرام تک ہوندا وے۔ شترمرغ دنیا دا سب سے وڈا انڈا دینے والا جانور بھی اے۔ اس دے انڈے دا سائز 6 انچ تے وزن تقریبا ڈیڑھ کلو ہوندا وے۔ شترمرغ دے پر چھوٹے تے گردن بہت لمبی ہوندی اے۔اس دی ٹنگاں بھی بوت لمبی تے مضبوط ہوندیاون جیہڑی اس نوں تیز دوڑنے دے وچ مدد دیندیا وون۔شترمرغ خطرے دے وخت 70 کلومیٹر فی گھنٹہ دی رفتارنال دوڑ سکدا وے۔ عام پرندے تے جانوراں دے پیراں دے تلوے دے تلے تین سی چار ٹوہ ہوندیاوون لیکن شتر مرغ دے پیر دے تلوے دے تلے صرف دو ٹوہ ہوندیا وون جس دی وجہ نال اے بہت تیزی نال دوڑ سکدا وے۔ شترمرغ بوت خطرناک تے زوردار کِک لگانڑے واسے بھی مشہور اے۔ لڑائی دے وخت اس دی کک چھوٹے موٹے دشمن نوں اچھا خاصا نقصان پہنچا سکدی اے۔ اے تا ائی شترمرغ دے بارے وچ کجھ معلومات، تا ہنڑ اسی چلنے آں اپنی کھانڑی دی طرف۔

اناں بوت سارے شترمرغ دے وچ ہک بچہ بھی ایا۔ جس دا ناں ایا۔ جیگو۔۔۔جیگو ہالی صرف ہک سال دا ایا مگر اس دا قد تین فٹ تے وزن 45 کلوگرام ایا۔ ویسے تا جیگو بڑا اچھا بچہ ایا۔ آپڑی ماما دی گل بھی مندا ایا تے وخت تے کھانا بھی کھاندا ایا۔ لیکن اس نوں ہک شوق ایا۔ تے او شوق ایا۔ اُڈنے دا۔۔۔نیلے آسمان تے اُڈنے دا۔ کھلی تے صاف ہوا دے وچ اڈنے دا۔۔۔

آسمان تے اڈدے پرندے دیکھ کے اس دا بوت دل چاہندا ایا کہ او بھی اناں آر ہوا دے وچ اوڈے۔ نیلے آسمان تے ادھر سے ادھر نسدے دوڑدے بدلاں دے نال اکھ مچولی کھیڈے، لیکن او ، اے نی کرسکدا ایا۔ کیوں کہ اس دا جسم بوت وڈا، وزنی تے پر بوت چھوٹے چھوٹے ائے۔ اڈنے دا شوق جیگو نوں اس وخت سی ایا جدو او بہت چھوٹا ایا تے اے جانڑدا بھی نی ایا کہ اس دے پر اڈنے واسے نینگے۔اس وخت اس دی ماما نے بھی اس نوں نی دسا ایا۔ ہک واری او ہک چھوٹے جئے ٹیلے تے چڑھ کے تھلے کود گیا ایا اس نے آپڑے پر کھولے۔ مگر اڈنے دی بجائے دھڑام نل تھلے ڈھے پیا ایا۔ اس وخت اس دی ماما نے اس نوں پہلی وار دسا ایا کہ او اڈ نی سکدا۔ جیگو نوں بوت دکھ ہویا۔ اس دے باوجود بھی او کئی واری اڈنے دی کوشش کردا ریا۔ جتھے کوئی اوچی جگہ لبھدا تے اس نوں لگدا ایا کہ اگر او ادور سے کُد مارے تا اڈ سکدا وے۔ لیکن ماما ہر واری اس نے منع کردیندی ائی۔

ماما اس نوں سمجھاندی۔

پتر! ساڈے اے پر اڈنے واسے نینگے۔

جیگواداس ہو کر کہندا۔ تے وت کس واسے وون ماما؟ باقی پرندے آں دے پر اڈنے واسے ہوندے وون تے ساڈے پر کس واسے وون وت۔

ماما کیہندی۔ پتر ! ساڈا وزن بوت زیادہ ہوندا وے، اس واسے اسی اناں پراں دے نال اڈ نی سکدے۔

جیگو اور بھی خفا ہوجاندا۔ تے وت سانوں وڈے پر کیوں نی ملے ماما۔۔اڈے واسے

ماما وت سمجھانڑے دی کوشش کردی۔

دیکھ پتر! سانوں اللہ نے اڈنے دی صلاحیت نی دیتی، لیکن اس دے بدلے اچ کتنی مضبوط تے لمبی ٹنگاں دیتیا وون۔

جیگو منہ بنڑا کہ کیہندا۔ کے فیدہ اناں لمبی ٹنگاں دا۔ تے اتنے وزن دا۔۔۔جیہڑے سانوں اڈنے نی دیندے۔

ماما وت کوشش کردی۔ اسراں نی کیہندے پتر! ناشکری نی کرنی چائیے دی اے۔ اللہ نے ہر پرندے نوں کوئی نہ کوئی صلاحیت ضرور دیتی اے۔ جیہڑی دوسریاں اچ نہیں ہوندی۔ جس طراں کہ دنیا اچ ساڈے سی زیادہ تیز دوڑنے والا تے سب سی وڈا پرندہ ہور کوئی نینگا۔

جیگو وت بھی نہ مندا۔ لیکن منوں اڈنا وے ماما۔۔۔دوڑنا نینگاں۔

ماما تھک کے چپ ہوجاندی تے جیگو وت سے اڈنے دا کوئی منصوبہ سوچنے لگدا۔

ہک دن جیگو دوپہر دا کھانا کھا کے ماما سی چھپ کر باہر نکل ایا۔ حالاں کہ ماما نے اس نوں تھوڑی دیر سونے دی ہدایت کیتی ائی۔ جیگو اج وت کسی اوچی جگہ دی تلاش اچ ایا۔ جتھو سے کُد مار کے او اڈنے دی کوشش کردا۔ ٹُر دے ٹُردے ہک چھوٹی جئی پہاڑی آ گئی۔ جیگو نوں اے جگہ ٹھیک لگی۔ او پہاڑی تے چڑھنے دا سوچ دا ای پیا ایا کہ اس نوں ہک بوتل نظر ائی۔ جیگو نے آپڑی لمبی ٹنگ دے نال ہک زوردار کک لگائی تا کچ دی بوتل ہک پتھر دے نال ٹکرا کے ٹُٹ گئی تے اس وچوں تھواں نکلنے لگا۔ جیگو ڈر کے نسنے والا ایا کہ تھویں وچو ہک آواز ائی۔

ڈر ناں بچے۔۔۔ میں ہک جن آں، تنے اس بوتل نوں توڑ کے منوں رہا کیتا وے۔ میں تیری ہک خواہش پوری کرسکنا واں۔

جیگو ڈردے ڈردے بولا۔ کیہڑی۔۔ ۔کیہڑی خواہش؟

جن نے کیہا۔ کوئی بھی خواہش جیہڑی توکھویں۔

جیگو نے سوچا۔ کیوں نہ میں اس جن سی آپڑے پر وڈے کروا لواں۔ وت میں اڈ بھی سک ساں۔

جیگو بولا۔ تو میرے پر وڈے کر سکناں ویں؟ اتنے وڈے کہ میں اڈ سکاں۔

جن نے جواب دتا۔ ہاں کیوں نئی۔ میں بالکل کر سکنا واں۔

جیگو نے کیہا۔ تے میری اے ٹنگاں بھی نکی کردے۔ اتنی وڈی ٹنگاں میرے کسی کم دیاں نینگیاں۔

جن نے کیہا۔ اے دوسری خواہش ہے۔۔۔ میں تیری صرف ہک خواہش پوری کرساں۔

جیگو نے کجھ دیر سوچا تے وت اس دے ذہن اچ ہک ترکیب ائی۔ اس نے جن نوں کیہا۔

اچھا اس طراں کرو۔۔۔جتنے میرے پر وڈے ہو ون اتنی ای میریا ٹنگاں نکیاں کردے جاؤ۔

جن نے کیہا۔ ہاں اے ٹھیک ہے، اے میں کرسکنا واں۔

وت اس نے کجھ پڑھ کرجیگو تے پھوک ماری تا اس دے پر وڈے ہونڑے لگے تے ٹنگاں سکڑنے لگیاں۔ چوں کہ جیگو دا جسم وزنی ایا اس واسے اس نوں اڈنے واسے بوت وڈے پراں دی ضرورت ائی۔ اس واسے پراں دے بوت وڈے ہوندے ہوندے اس دی ٹنگاں بہت چھوٹی ہو گیاں۔ بالکل پنسل د ی طراں نکی تے پتلی۔

جیگو بوت خوش ایا۔ اس نے آپڑے وڈے وڈے پر پھیلائے تے ہوا دے وچ اڈنے لگا۔ جلدی وچ اس نے جن دا شکریہ بھی ادا نہ کیتا۔ اس نوں تا بس اے خوشی ائی کہ او اوڈ سکدا وے۔ جیگو بوت اوچائی تے چلا گیا۔

ہواواں دے وچ۔ بدلاں دے وچوں لنگدے ہوئے او ٹھنڈے ٹھنڈے بدلاں نوں آپڑے چھرے تے پیا محسوس کردا یایا۔ تھلے دیکھاس تا ہرچیز نکی نکی نظرآندی ائی۔ نیلا آسمان اس دے سامنڑے ایا۔ تے او اڈدے اڈدے آپڑے کھار سی بھی دور نکول گیا۔ رستے اچ ملنڑے والے تمام نکے نکے پرندے اس نوں حیرانگی نال

دیکھ دے ائے۔ اڈدے اڈدے جیگو تھک گیا تے اس نے سوچا ہنڑ اس نوں زمین تے بیٹھنے دی بجائے دوسرے پرندے آں ہار درخت تے بیٹھنا چاہیے دا وے۔ اے سوچ کہ او اڈدے اڈدے ہک درخت دی ٹالی تے لے گیا۔

لیکن ۔۔۔ اس دی ٹنگاں اتنی چھوٹی ہوگیاں ایاں کہ او تلے ٹھنڑے لگا۔ کیوں کہ اس دا وزن بوت زیادہ ایا۔ جیگو نے جلدی نال پر کھولے تے وت اڈنے لگا۔ کجھ دور جا کر اس نے وت ہک شاخ تے بیٹھنے دی کوشش کیتی تے وت ٹھہ پیا۔ او اڈدے اڈدے تھک گیا ایا۔ اس دا وزن بھی بوت ایا تے اس نوں اڈنے واسے بوت طاقت لگانڑی پیندی ائی۔ تے اتنی محنت سی بعد اس دی ہمت جواب دی گئی ائی۔ اس نوں پھک بھی لگی ائی۔ لیکن او درخت تے نی بیٹھ سکدا پیا ایا۔ اخیرتھک کے او زمین تے ای لے گیا۔

لیکن اس دی ٹنگاں اتنی چھوٹی ہوگیا ایاں کہ اس دا وزن نہ سنبھال سکیاں تے او زمین تے ٹھہ پیا۔ اس دے بازو، جیہڑے ہنڑ وڈے وڈے پر بنڑ چکے ائے۔اتنے تھک گئے ائے کہ او ہل بھی نی سکدا ایا۔او زمین تے ہی لیٹا ریا۔جیگو نوں اس وخت زمین بوت اچھی لگدی پئی ائی تے او آپڑی لمبی ٹنگاں نوں بوت یاد پیا کردا ایا۔ اتنے وچ اس نوں خطرے دی بو آئی۔ اے ہک خطرناک لگڑبھگا ایا جیہڑا اس دے نزدیک آندا پیا ایا۔

لگڑ بھگا کتے دی شکل دا ہک جانور ہے جیہڑا چھوٹے موٹے جانوراں تے پرندے آں دا گوشت کھانداوے۔

شاید اس نے دیکھ لیتا ایا کہ جیگو نہ اڈ سکدا وے تے نہ ہی نس سکدا وے۔ جیگو نوں آپڑی لمبی تے مضبوط ٹنگاں یاد آنڑے لگیاں۔ اس سی وڈے تے خطرناک جانور بھی پہلے اس دے نزدیک آنڑے سی ڈردے ائے۔ لیکن اس وقت جیگو دی جان خطرے وچ ائی۔ جیگو نے ہمت کیتی خو کھلو نہ سکا۔ وت اس نے پر کھولنے دی کوشش کیتی خو او بھی تھکن سی بے حال ائے۔ جیگو سمجھ گیا کہ اس دا وخت پورا ہوگیا اے، تے ہونڑ لگڑ بھگا اس دا شکار کرنے ای والا اے۔ وت بھی جیگو نے آخری وار ماما نوں آواز دیتی۔

ماما۔۔۔ ماما۔۔۔ بچاؤ۔۔۔ میریا ٹنگاں۔۔۔ میریا ٹنگاں۔۔۔ منوں نی اڈنا۔۔۔ منوں نی اڈنا۔۔۔بچاؤ۔

وت اچانک جیگو دے کن اچ ماما دی آواز آئی۔

کیہہ ہویا اے پتر! کیوں شور پیا مچانا ویں۔ کوئی خواب دیکھا ای؟

جیگو اٹھ کے بیٹھ گیا۔ اوہ۔۔۔ تے اے خواب ایا۔ شکر اے۔

اس نے جلدی نال اٹھ کے دیکھا تو اس دے پر چھوٹے تے ٹنگاں ویسے ہی وڈی تے مضبوط ایاں۔

جیگو نے کیہا۔

جی ماما۔۔۔ خواب ای ایا۔ منوں معاف کردیو ماما۔۔۔ ہونڑ میں آپڑی وڈی ٹنگاں نوں کدی برا نہ کیہساں تے نہ کدی اڈنے دی خواہش کرساں۔ ماما نے مسکراندے ہوئے جیگو نوں گلے لگا لیتا۔





# کھوار، گیاک زمانوت

ذوالفقار علی شاہ صفی



کھوارو گیاک زمانہ ریکو چھتراری ای ژورو واقعہ مہ یادی ہائے۔ واقعہ ھڻ کی چھتراری ای ژور کراچیو سبق ریکو بوغدو بیرائے۔ بو مودا ہتو ہل بیتی چُٹی بیکو دوروت گیتی اسور۔ دورا گیتی چھیو اورے اسیکا ، جوہجو بجا رینی واقھیکو انگاہ بیتی توغو سخت بوختوارو گیرو بیرائے۔ چھوچی روپھیکو ، اے مہ ژور کیچہ پورتاؤ رے ، نان خبار گانی اسور۔ ریکو ژور ، ہائے ممی چھیوtwelve بجا رینی بھونکیکو مہ سخت بوختوارو ہائے را سور۔ لو دیکو مقصد ژورگینیان سورا تنقید نو بلکہ ہر ہتے سبق راردو ژاؤو چے ژورو سورا تنقید شیر کی ہاتیت زور کوری یا نو بیتی خور واران کھوارو سوم اموشتے تان سورو سبق راردو پاشیکو کھوششو کونیان۔ ہموڜ کی ہوئے ای انوس ہڜ گوئے کی اسپہ تان وارو تونجے نیشیسی۔

مخترم مضمون لوڑیک خوش دراکان! مضمونو شروغا کیہ واقعو لوؤ کی پھریتام ، ہورا مطلب ہیہ نو کی ، کی کھوارو مستقبل اسپہ غیچی چھوئی گویان۔ کیہ دی وارو کی یی گانی لوڑایتام ہےوارو مستقبل ہے وارو کوراکان پھانہ مختاج۔ ہے وارو کوراک یا ہے وارو پروشٹی الونی یا ہو لش لش بیتی راخخونی۔ لو دیکو مقصد اسپہ دی زہنی و چے علمی ترقی کھوارو مستقبل شیر۔ دنیا ترقی کاردو کیہ وارو کی لوڑیتام ہے وارو کوراک رویان کھوشش و چے محنت یورو غون روشت اسپہ غیچی گوئے۔ شعر و شاعری ، کتاب نیویشیکار گانی خور وارو کتابن تان وارا ترجمہ کوریکا پت ، وا تان واروت ترقی دیکا خور دی کندوری کیہ خدمات کی کوراؤ اسونی ہیس ہیتن وارو تراقیو وجہ۔ ہیت تان وارو سورا فخر کونیان۔ وا کا کی تان وارو سورا فخر نو کونیان ہتیت ہیتن وارا تان موژی ایغو سوم لو دیتی سوت ہجانہ ایہ نو بونیان وا تان تشخصو تونجیسیان رے دی کیہ دراکہ نو دونیان۔

کھوارو مستقبلو بارا لو دیاوا کی لوڑیتام شعر و شاعریا اسپہ وار بو پروشٹی بی شیر۔ البتہ شعر و شاعریوخیق دی بہتر کوریکو بچین کیہ تنقیدی پلیٹ فام نو بیکین دیتی خور وارو الفاظان کھوار شاعریا استمال کوریک عام بیتی شیر۔ ہڜ کی ہوئے وا کھوارو ہتے شیرینی نو بہچور۔ ہیغین دیتی نیویشاکان سورا لازم شیر کی کھوشش کوری کھواروتان لفظان کورمہ انگیلیک۔ وا ہے سوم جوستہ کھوارو بیہیو بچین تعمیری تنقید کی ہوئے ، تان زہنان اذاد لکھیلیک بوئے۔ کھوارو پروشٹی الیکو بچین نثرو میدانہ بو کوروم کوریکو ضرورت شیر۔

